# سړی په څه باندې ژوندی وي؟!

*څوک چې د مینې خاوند وي هغه د خدای په منځ کې وي او د خدای یوه څړیکه هم د هغه په منځ کې وي، ځکه چې خدای سراسر مینه ده*

**لیو ټولستوی**

له ترکي څخه ژباړه

**محمود شاهد صافي**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنـــی آدم اعضـــای یـــک دیگرنـــد
کـــه در آفـــرینش ز یـــک گوهرنـــد

چـــو عضـــوی بـــه درد آورد روزگـــار
دگـــر عضـــوها را نمانـــد قـــرار

تـــو کـــز محنـــت دیگـــران بـــی غمـــی
نشـــاید کـــه نامـــت نهنـــد آدمـــی

ـ سعدی شیرازی، قرن ۱۳ م

(c) ketabton.com: The Digital Library





# سړی په څه باندې ژوندی وي؟!

*څوک چې د مینې خاوند وي هغه د خدای په منځ کې وي او د خدای یوه څرېکه هم د هغه په منځ کې وي، ځکه چې خدای سراسر مینه ده*


لیکوال: **لیو ټولسټوی**

ژباړه: **محمد شاهد صافی**


چاپکال: **۱۳۹۹ل/ ۲۰۲۰ز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library





لیو نیکولایویچ ټولستوی

۱۹۱۰-۱۸۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن لنډ يادښت

ټولستوی د تزاري روسيې په تولا ښار کې په يوې شتمنې کورنۍ کې وزېږېد. په ډېر ماشومتوب کې يې خپل مور و پلار له لاسه ورکړل، له خپلو نږدې خپلوانو سره لوی شو. په پېنځلس کلنۍ کې يې فرانسوي زده کړه او د «ولټېر» او «ژان ژاک روسو» کتابونه يې ولوستل او له دې دوو سترو فيلسوفانو څخه خورا اغېزمن شو. لومړی اثر يې په اته ويشت کلنۍ کې ليکلی چې د «ماشومتوب» په نامه يو رومان دی.

د نړۍ په ادبياتو کې ټولستوی يو له هغو پياوړيو څېرو څخه دی چې انسان ډېر ښه پېژني. همدا راز د هغه دا ځانګړتيا د نوموړي په ټولو آثارو کې ليدل کېږي. په دې لنډ، خو اغېزناک اثر کې هغه په داسې پوښتنو باندې غور کړی او په يوه فلسفي ليد يې د کيسو په بڼه ليکلې دي چې خلک يې له پېړيو راهيسې د ځواب موندلو په لټه کې ول.
ستاسې په لاس کې کتاب له څلورو کيسو جوړ دی چې د انسان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېګڼو، بدنيتی، تواضع او حرص په اړه شهکار کيسې دي او په هر وخت کې د هر چا لپاره د يوه لارښود په توګه ګټه ترې اخيستل کېدای شي.

انسان په ژوند کې څه ته اړتيا لري؟
انسان ولې ژوند کوي؟
انسان ته نه ورکړل شوي شيان څه دي؟
له څه سره ژوند ښکلی کېږي؟
انسان له څه سره ژوندی دی؟
دا هغه کتاب دی چې دې ټولو مغشوشوونکيو پوښتنو ته ځوابونه پکې موندلی شئ.
پدې هيله چې له لوستلو يې خوند واخلئ.

درنښت مو غواړم
محمد شاهد صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سړی په څه باندې ژوندی وي؟

د سیمون په نامه یو بوټ جوړوونکی و چې نه یې ځمکه خپل وه او نه یې کور. هغه خپل ښځې او ماشومانو سره په یو کلیوالي کوډله کې ژوند کوه او بوټ جوړولو سره یې خپل ژوند مخ ته وړه. په لږه بیه یې کار کوه خو مجبور و چې د یو څه خوړلو لپاره کار وکړي. سیمون او د هغه ښځې ژمي لپاره یوازې یو دانه کوټ درلود، هغه هم ډېر شلېدلی و. دوه کاله و چې سیمون غوښتل تر څو د نوي کوټ لپاره د پسه پوستین واخلي. مخکې له دې چې ژمی پیل شي یو څه پیسې یې ټولې کړې وې: درې ربله چې د مېرمن په دخل کې یې ساتلې وې، او د هغه تر څنګ د ځینو کلیوالو پېرودونکو پنځه ربله او شل کپیکه پور هم و. یو سهار د پسه پوستین اخیستو لپاره کلي خوا ته د تګ لپاره چمتو کېده. په کمیس باندې یې د خپل ښځې نری جمپر واغوست او د هغه په سر یې هم خپل تکه اي جمپر واغوست. درې ربله یې خپل په جېب کې کېښودل او ځان لپاره یې له ونې څخه یو اوږد لرګی مات کړ څو ورنه په لاره کې ګټه واخلي. وروسته له سهارنۍ یې خپل مزل پیل کړ. ځان سره یې داسې فکر وکړ:«پنځه ربله پور چې مې پاتې دی اخلم او ورسره دا درې ربله ګډوم، دا به د ژمني پوستین اخیستلو لپاره بس وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي ته ورسېد او د یو پوراوړ کلیوال کور خوا ته یې غږ وکړ خو کلیوال په کور کې نه و. تېره اونۍ هم کله چې ورغلی و د همدا کلیوال ښځې ورسره ژمنه کړې وه چې په راتلونکې اونۍ کې به یې پور ورکړي، خو اوس په کور کې نه و. وروسته بیا سیمون د یو بل پوراوړ کلیوال کور خوا ته غږ وکړ خو هغه هم قسم وخوړ چې پیسې نلري. ورته یې یوازې د موچي ګرۍ د اوجورې په توګه شل کپیکه ورکړل.

وروسته سیمون بازار ته ولاړ. هڅه یې وکړه چې په پور باندې د پسه پوستین واخلي خو پلورونکي په هغه باور و نه کړ.

ورته یې وویل: «لومړی پیسې راوړه، بیا نو هر پوستین چې غواړې غوره یې کړه. ایا ته پوهېږې چې پور ټولول یعنې څه؟» په همدې شان سیمون یوازې وکولای شو چې د موچي ګرۍ په مقابل کې شل کپیکه؛ سره د یو جوړه زاړه او شلېدلو بوټانو چې یو بل کلیوال ورته وړیا ورکړل، تر لاسه کړي.

سیمون بد احساس درلود. په شل کپیکه یې ودکا واخیست او پرته له دې چې پوستین واخلي کور ته راستون شو. سهار یې ساړه شوي و، خو اوس ـ که څه هم د پسه له پوسته جوړ کوټ نلري ـ خو بیا هم له دې کبله چې ودکا یې څښلی و، ځان یې ګرم و. وروسته نو ځان سره په لوړغږ غږېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

هغه ویل: «پوستین نلرم خو ښه ګرم شوم. یو څاڅکې مې وڅښه، اوس مې په ټولو رګونو کې ګرځي. د پسه پوستکي ته اړتیا نلرم. زه همداسې ښه یم او د هېڅ څه اندېښنه نه لرم. ځکه چې زه همداسې یو سړی یم! د هېڅ څه پروا نلرم. نو پرته له پوستینه هم ژوند کولای شم. هېڅ ورته اړتیا نلرم. هو، سمه ده چې ښځه به مې په اندېښنې شي. هو، رښتیا هم دا ډېر بد وضعیت دی چې انسان ټوله ورځ لکه خره وګرځي  او هېڅ څه و نه ګټي. ودرېږه! که هغه پیسې دې راته را نه وړې، زه به خامخا تا سره کار لرم، که مې پرېښودې زه به سړی نه یم. دا نو څنګه چل دی؟! ما ته شل کپیکه راکوي! زه به په دا شل کپیکو څه وکړم؟  په یو ځل کې پرې شراب اخلم او څښم یې! وایي چې په بد وضعیت کې یم... نو زه څه؟ ته خو د یو کور خاوند یې، څو دانې څاروي او نور هر څه لرې؛ خو زه یوازې همدا څه چې مې په ځان کې دي لرم! ته خپل خوراک په خپل ځمکه کې کرلی شې خو زه اړ یم څو هره دانه د غنمو په بیه واخلم. هر څه چې وکړم بیا هم اړ یم چې هره اونۍ د ډوډۍ اخیستلو لپاره درې ربله نور هم مصرف کړم. هره ورځ کله چې کور ته ځم، که ټوله ډوډۍ خوړل شوې وي، اړ یم چې لکه خره یو نیم ربله نور پیدا کړم. د دې لپاره زما پور راکړه او ډېرې کړتې مه وایه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمون په دا مهال کې د واټ په څنګ کې یو عبادتځي ته مخ په رسېدو و. له ورایه یې ولید چې د عبادتځي په شا کې یو تک سپین توکی شته. نه پوهېد چې څه دی خو ورته یې کتل. لمر هم مخ په لوېدو و. «مخکې خو په دې ځای کې هېڅ کومه سپین کاڼی نه و. آیا دا یو غویه دی؟ نه دا د غویه په څېر ندی. ککره یې لکه د انسان ده، خو ډېره زیاته سپینه ده. نو یو انسان به هلته څه کوي؟»

کله چې نور هم نږدې شو هر څه ورته ښکاره شول. بوټجوړوونکی حیران و خو دا په رښتیا هم یو انسان و، لغړ ناست و. د عبادتځي په لور یې مخ و او هېڅ نه ښورېده. بوټجوړوونکی وېرېدلی و. په دې توګه یې فکر کوه:«دا سړی کوم چا مړ کړی، بیا یې لوڅ کړی او هلته یې خوشې کړی. که په دې کار کې لاسوهی وکړم خامخا به په بلا کې اخته شم.»

خپل لارې ته یې دوام ورکړ. د عبادتځي له مخې نه تېر شو. د سړي له څنګه تېر شو او داسې وښودل چې هېڅ یې نه وي لیدلي. سیمون وړاندې ولاړ. لږ چې نور هم وړاندې شو خپل مخ یې شا ته واړو تر څو وګوري. دا ځل یې ولید چې نور د سړي ککره د عبادتځي په لور نده، بلکې خپل ککره یې اړولې او هغه ته ګوري. بوټجوړوونکی دومره وېرېدلی و چې هېڅکله دومره نه و وېرېدلی. ځان سره یې وویل: «نه پوهېږم چې بېرته د هغه څنګ ته وګرځم که خپلې لارې ته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام ورکړم. که د هغه څنګ ته بېرته ولاړ شم کېدای شي چې خورا وېرجنې پېښې منځ ته راشي. څوک پوهېږي چې دا سړی به څوک وي؟ کېدای شي چې دلته د ښه نیت لپاره نه وي راغلی. که چېرې د هغه څنګ ته ولاړ شم دا شونې ده چې په ما به برید وکړي او ما له ستونې څخه ونیسي. بیا به ورنه خلاصېدای هم نشم. هېڅ که هم و نشي، زما لپاره به یو بار شي. زه به په یو لغړ سړي څه وکړم؟ دا خپلې وروستۍ جامې مې خو ورته ورکولای نشم. خدای دې ما وبخښي خو زه دومره کولای شم چې له دې ځایه لېرې شم.»

بوټجوړوونکی همدا فکرونو سره په خپل مزل روان و او عبادتځای یې شاته پاتې کړ... ناڅاپه یې وجدان ټکان وخوړ او ځای پر ځای ودرېد. ځان سره یې وویل:«ته څه کوې اې سیمونه؟ کېدای شي چې هغه سړی ومري او ته ډارن ورنه تښتې؟ دومره شتمن شوې چې د غله نه ډارېږې؟ آه سیمونه دا ډېر د شرم ځای دی!»
په دې توګه بېرته واوړېد او د سړي خوا ته بېرته نږدې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

کله چې سیمون پردي سړي ته نږدې شو هغه ته یې وکتل. هغه ځوان او پیاوړی ښکارېد. په ځان باندې یې د کوم ټپ نښه نه وه؛ ښکارېده چې ډېر وېرېدلی و او ساړه یې کېدل. ځای پر ځای ناست و. دومره ناتوانه برېښېده چې چا به ویل آن سترګې نشي پورته کولای. کله چې سیمون ورته نږدې شو، سړی ویښ شو. سترګې یې پرانیستې، بیا د سیمون څېرې ته ځیر شو. د هغه همدا لیدل بس شول څو سیمونورباندې مهربانه شي. سیمون هغه زاړه بوټان چې په لاس کې یې و په ځمکې باندې واچول او کمربند یې خپل پرانیست، هغه یې په بوټانو کېښود او خپل تکه اي جمپر یې ویسته.

هغه وویل: «د خبرو وخت ندی، راځه دا جمپر دې په ځان کې کړه!» همداسې سیمون پردی سړی له لاسه ونیو او مرسته یې ورسره وکړه تر څو په پښو ودرېږي. د سیمون پام شو چې د سړي ځان پاک او روغ دی. لاس او پښې یې سمې وې او څېره یې ښه او مهربانه ښکارېده. له جمپره یې  لاسونه تېرولای ونشول. بیا سیمون ورسره مرسته وکړه څو خپل لاسونه تېر کړي. جمپر یې د سړي په ځان کې ښه وپوښوه، بیا یې کمربند د سړي په ملا کې وتړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمون آن خپل شلېدلې خولۍ هم د سرې په سر کېښوده خو اوس بیا خپل سر یې په سرو شو. داسې یې فکر وکړ:«زه خورا پک یم خو هغه چنگچنگي وېښتان لري.» بیا یې خپله خولۍ بېرته خپل په سر کېښوده. فکر یې وکړ چې دا به لا ښه وي چې ورته د پښو پټولو لپاره کوم څه ورکړم او سرې یې کښېناوه. هغه زاړه بوټان چې په لاس کې یې و د هغه په پښو کړل. «دا دی ملگریه، اوس به تود شې. نور شیان وروسته سمیږي. د گرځېدلو وسه لرې؟»

سرې په پښو ودرېد او په ډېره مینه یې سیمون ته وکتل، خو هېڅ څه یې و نه ویل.

سیمون وویل:«ولې نه غږېږې؟ دا ځای دومره سوړ دی چې پکښې اوسېدلای نشې، باید کور ته ولاړ شو. هله، زما عصا ځان سره واخله. که ځان دې ضعیف احساسوې په ما تکیه وکړه. هله نو.»

سرې په کراره وگرځېد. په آسانۍ روان و او شاته هم نه پاتې کېده.

سیمون ورنه وپوښت: «ته له کوم ځایه راغلی یې؟»

«له دې ځایونو څخه نه یم.»

«ما هم همداسې فکر وکړ، د دې ځای ټول خلک پېژنم. نو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادتځي شاته څرنگه ولوېدې؟»

«دا ویلی نشم.»

«کوم چا درسره بد چلند کړی؟»

«نه هېڅ چا ما سره بد چلند ندی کړی. خدای ما ته سزا راکړې.»

«بېشکه چې خدای په هر چا واکمن دی. خو بیا اړ یو چې استوگنځای او خواړه خپله ومومندو. ته غواړې چې چېرته اوسې؟»

«زما لپاره ټول ځایونه په یو شان دي»

سیمون دې خبرې ته حیران شو. سړی لکه غل نه ښکارېد او په ادب غږېده. خو بیا هم د خپل ځان په اړه یې هېڅ څه نه ویل. سیمون له دې سره سره داسې فکر وکړ:
«څوک پوهیږي چې دا څوک دی؟» وروسته یې پردي ته وویل:«نو ما سره یو ځای زما کور ته ولاړ شه، لږ تر لږه خو یو څه به دې وپېژنم.»

بیا سیمون او پردی د کور په لورې روان شول. باد ډېر و. سیمون په سینه کې ساړه احساسول. نور نو د شرابو اغېز پرې پاتې نه و او د سړېدلو حس ببرته پرې راغلی و. خپله پوزه یې وڅښله. ځان سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوه: «دا دی... واخله د پسه پوستین! له کوره د پسه پوستین اخیستلو لپاره ووتم خو اوس آن پرته له خپل زوړ جمپره بېرته کور ته ستنېږم. سر ببره پر دې بیا خپل ځان سره یو لغړ سړی هم وړم. ماتریونا به په دې وضعیت هېڅ خوښه نه شي!»

کله چې یې د ښځې په هکله فکر وکړ خواشینی شو. خو بیا د پردي سړي حال یې په یاد شو چې څنګه بې وزله پروت و او ورته یې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

د سیمون مېرمن هغه ورځ ټول کارونه د وخته پای ته رسولي و. لرګي يې مات کړي و، اوبه يې راوړې وې، ماشومان يې ماړه کړي و، خپله يې هم خواړه خوړلي و او اوس ناسته وه او په دې فکر کې وه چې څه وخت ډوډۍ پخه کړي. نه پوهېده چې آيا اوس يې پخه کړي که سهار. ځکه چې لا يوه برخه د ډوډۍ پاتې وه.

ځان سره يې دا فکر وکړ:« که سیمون په بازار کې کوم څه خوړلي وي او شپې هم ډېر څه و نه خوري، نو یوې بلې ورځ لپاره مو هم همدا ډوډۍ بسیږي.»

د ډوډۍ پاتې برخه يې څو ځله خپل لاس سره وتلله. ویې ویل: «نن بله نه پخوم. یوازې د یوې ډوډۍ پخلو لپاره اوړه پاتې دي. باید جمعې ورځې پورې همدا مو بس شي.»

ماتریونا ډوډۍ په ځای کړه او بېرته کښېناسته. د خپل مېړه د کمیس ګنډلو ته يې پیل کړ. په دا فکر وه چې همدا اوس چې خپله په دا کار بوخته ده مېړه يې هم پوستینونه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«پلورونکی به انشالله هغه و نه غولوي. زما ګران مېړه ډېر پاک او ساده سړی دی؛ هېڅ څوک نه غولوي، خو آن يو ماشوم هم هغه غولولای شي. اته روبله خورا ښې پيسې دي... په دا پيسو باندې ښه پوستينونه اخيستل کيږي. که څه هم پلنډ پوستينونه نشي اخيستلای خو د ژمي لپاره مناسب پوستينونه اخيستلای شي. تېر کال پرته له تود پوستينه ژمی تېرول زښت ګران و. آن د سمندرغاړې ته تللای و نه شوم، بهر وتل هم آسانه نه و. دواړه به يو ځای دباندې نه شوو وتلای. ځکه چې کله چې يو کس مو بهر وتلو، څه چې مو درلود اغوستل مو نو څه نه پاتې کېدل تر څو بل يو هغه واغوندي.

نن سهار خو سيمون ډېر وختي ندی تللی خو بيا هم اوس بيخي ماښام شو، بايد اوس راشي. هيله لرم چې حسابونه ورنه نه وي ګډوډ شوي!»
کله چې ماتريونا په دې فکرونو کې ډوبه وه د دروازې څخه د پښو غږونه راغلل. بيا يو کس دننه راغی. ماتريونا ستنه په همغه تکه کې ونښلوله او د دروازې خوا ته ولاړه. هلته يې دوه سړي وليدل: سيمون سره له يو بې خولی، د زړو بوټانو خاوند يو سړی.

ماتريونا پوه شوه چې د مېړه نه يې د شرابو بوی ځي.
«دا دی! بيا يې شراب څښکلي.»
بيا کله چې خپل مېړه يې پرته له جمپره او تش لاسی وليد چې شرمېدلی او غلی و، ناميده شوه. فکر يې کوه چې په ټولو پيسو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شراب څښکلي او يو ناپېژانده سړي سره بېرته راستون شوی.

ماتريونا هغوی ته لاره ورکړه تر څو کور ته ننوځي. هغه هم ورپسې ولاړه. ويې ليد چې پردی ځوان او تکړه دی او د مېړه جمپر يې هم د هغه په ځان کې دی. په ځان کې يې کوم بل کميس هم نه ښکارېد. ټول دننه ننوتل. پردی نه ښورېده او نه يې سترګې پورته کولې. ماتريونا فکر کوه چې هغه سم سړی ندی نو ځکه وېرېږي.

ماتريونا خپل وريزې پورته کړې او بيا د تنور څنګ ته ودرېده. بيا په تمه شوه او ننداره يې کړ چې هغوی اوس څه کوي.

سيمون خپل خولۍ وباسته او خپل په ځای کې کښېناست. داسې چلند يې کاوه چې هېڅ هم نه وي شوي.

«راشه ماتريونا، که د شپې خواړه چمتو وي راوړه چې ويې خورو.»

ماتريونا ځان سره وبنګېده خو هېڅ و نه ښورېده. لومړی يې يو سړي ته وکتل، بيا يې بل ته. بيا يې يوازې خپل سر وښوروه. سيمون وليد چې ښځه يې په غوسه ده، خو ځان يې په نا پوهۍ ونيو. لکه دا چې هېڅ هم نوي شوي، پردی يې له مړونده ونيو او ورته يې وويل: «کښېنه ملګريه چې په ګډه خواړه وخورو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردې په څوکۍ کښېناست.

سیمون له ماتریونا نه پوښتنه وکړه:
«زموږ لپاره دې د خوړلو لپاره کوم څه ندي چمتو کړي؟»

ماتریونا نور هم په غوسه شوه. «ما خواړه تیار کړي دي، خو ستاسو لپاره نه. داسې ښکاري چې تا شرابو سره خپل ماغزه هم خوړلي. ته د پوستین اخیستو لپاره ولاړې، خو اوس چې بېرته کور ته راغلی یې آن خپل جمپر دې هم په ځان کې ندی. ځان سره دې یو لنډغر هم راوستی چې ښکاره ندی چې څوک دی. زه تاسو شرابیانو ته خواړه نلرم!»

«بس دی نو ماتریونا! بې له دې چې پوه شې سپکاوی مه کوه. که پوه شې چې دا څنګه یو سړی دی...»

«تا لا ما ته ندي ویلي چې په پیسو دې څه وکړل؟»

سیمون خپل له جمپره درې روبله وابستې او ویې ښود.

«دا دي پیسې دې. تریفونوف خپل پور را نه کړ، خو ژمنه یې وکړه چې په نږدې وخت کې یې راکوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتريونا لا هم په غوسه وه. مېړه يې پوستين نه و اخيستی او سر بېره پر دې يې خپل يوازينی جمپر هم يو لغړ سړي ته ورکړی و. او هم يې کور ته راوستی و!

ماتريونا ژر د هغه له لاسه پيسې واخيستې او په جيب کې يې خپل کېښودې، بيا وغږېده. «زه تاسو لپاره خواړه نه لرم. زه نشم کولای څو د نړۍ ټول شرابيان ماړه کړم.»

«اې ماتريونا! لږ دې ژبه ونيسه. لومړی واوره چې دا سړی څه وايي او څه ته اړتيا لري...»

«نېشه لېدغر هم د خبرو شو... زه پر حقه وم چې تا سره مې نه غوښتل واده وکړم... ته يو شرابي يې. هغه وخت دې زما د مور هغه تکه چې ما ته ډالۍ کړې وه وپلورله او شراب دې پرې وڅښل، اوس دې هم د پوستين په پيسو شراب څښلي.»

سيمون هڅه وکړه څو خپلې ښځې ته ووايي چې هغه يوازې شل کپيکه مصرف کړي او ووايي چې څنګه يې دا سړی وموند... خو ماتريونا آن هغه نه پرېښود چې يوه خبره هم وکړي.

ماتريونا ډېره وغږېده او بيا د سيمون څنګ ته ولاړه او هغه يې له غاړې ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«زما جمپر راکړه! یوازینی جمپر چې لرم همدا دی! راکړه احمقه! بلا دې په دا شیطان مخ شه!»

سیمون جمپر ویسته. ماتریونا جمپر ورنه کش کړ نو د جمپر ګنډونه وشلېدل. بیا یې قات کړ او خپل په اوږه یې واچو او د دروازې په لور ولاړه. هغې غوښتل چې دباندې ووځي خو ناڅاپه ودرېده. غوښتل یې چې خپل غوسه پر هغوی خالي کړي، خو له بلې خوا نه یې هم غوښتل چې پوه شي چې دا پردی څوک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

ماتریونا ودرېده او وغږېده: «که دا سم سړی وای، هغه به لوڅ لغړ نه وای. ولې آن یو کمیس یې هم په ځان کې نشته؟ که هغه سم سړی وای تا به هرو مرو ویلي وای چې هغه دې له کوم ځایه پیدا کړ!»

سیمون وویل: « څه چې زه غواړم درته ووایم همدا دي... کله چې زه عبادتځي ته ورسېدم دا مې هلته لغړ او یخ وهلی وموند. ما ځان سره ویل چې دا هوا خو د لوڅ کښېناستلو لپاره هېڅ مناسبه نده!
بیا خدای وسیله شو چې زه یې څنګ ته ولاړ شم. که نه په همغه ځای کې به یې ساه ورکوله. نو ته خپله ووایه، ما به څه کول؟ زه نه پوهېدم چې پر هغه څه تېر شوي. د دې لپاره مې هغه ونیو او خپلې جامې مې ورته واغوستې، بیا مې کور ته راوست. دومره مه په غوسه کېږه ماتریونا. دا ګناه ده. مه هېروه چې موږ ټول یوه ورځ مرو!»

د ماتریونا پر خوله نور هم غوسه ناکې خبرې راتللې خو کله چې پردي ته یې وکتل غلې شوه. په څوکۍ کې ناست و، نه ښورېد، سر یې په ګرېوان ټیټ و، سترګې یې پټې وې او داسې ښکارېده چې همدا اوس دردویني . ماتریونا غلې شوه. سیمون ورته وویل:« ماتریونا ته هېڅ د خدای مینه نه لرې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتریونا د هغه دا خبره واورېده. کله چې پردي ته یې لیدل ناڅاپه پرې مهربانه شوه. له دروازې څخه بېرته وګرځېده او د تنور نه یې د شپې خواړه ویستل. په مېز یې ګېلاسونه کښېښودل او پکښې یې کواس واچو. بیا یې هغه وروستۍ برخه د ډوډۍ وباسته. په مېز یې کاشغې او پنجې کښېښودل.

هغه وویل: « که مو خواړه زړه ته کیږي ویې خورئ»
سیمون پردی خوړلو ته وبله.
ویې ویل: « راشه دلته کښېنه ځوانه.»
سیمون ډوډۍ ټوټه کړه او په کاسو کې یې وړه کړه.

دواړو خوړل پیل کړل. ماتریونا د مېز څنګ کې کښېناسته، ښي لاس یې په مېز کښېښود او پردي ته یې وکتل.

ماتریونا پر پردي باندې زړه سوی وکړ او هغه پرې ګران شو. بیا د پردي مخ روښانه شو او سترګې یې پورته کړې او ماتریونا ته یې وخاندل.

کله چې د شپې خواړه وخوړل شول ښځې لوښې ومینځې. بیا یې له پردي نه پوښتنې وکړې. ماتریونا وویل:« ته د کوم ځای نه یې؟»

«زه له دې ځایونو څخه نه یم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«نو څنګه بې کوره شوې؟»

«دا ویلی نشم.»

«آیا کوم چا لوټ کړی یې؟»

«نه، خدای ما ته سزا راکړې.»

«ښه، او نو بیا هلته لوڅ لغړ پروت وې؟»

«هو، لغړ وم او نړدې و چې کنګل شم. سیمون زه ولیدم او په ما یې زړه وسوزو. خپل جمپر یې ویست او هغه یې ما ته واغوست. بیا یې زه دلته راوړم. تا هم په ما رحم وکړ او ما ته دې خواړه او څښاک راکړل. زه ستاسو منندوی یم، خدای به تاسو ته خامخا اجرونه درکړي!»

ماتریونا په پښو ودرېده. د کړکۍ څنګ ته ولاړه تر څو هغه د سیمون زوړ کمیس چې ګنډه یې راوړي. هغه سره یې ورته یو پرتوګ هم راوړ.

هغې ویل: « ګورم چې کمیس نه لرې، دا دی. دا واغونده او هر ځای کې چې غواړې ویده شه، د بسترو په ځای کې یا د تنور په سر.»

پردي جمپر ویست او کمیس یې واغوست. بیا د بسترو په ځای کې پرېوت. ماتریونا شمع ګله کړه او جمپر یې واخیست. د خوب لپاره د سیمون څنګ ته ولاړه.

ماتریونا پرېوته او جمپر یې په ځان واچو خو ویده کېدای و نه شوه. مدام د پردي په اړه یې فکر کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم حیف یې راته چې هم د هغوی ورستی برخه د ډوډۍ یې وخوړه، او هم کمیس او پرتوګ یې وړیا واخیستل خو بیا هم کله چې د هغه مسکا یې په یادېده، زړه یې پرې سوزېده.

ماتریونا تر ډېره ویښه وه، پام یې شو چې سیمون هم ویښ دی.

«سیمونه!»

«څه؟»

«تاسو د ډوډۍ وروستی برخه هم وخوړه او ما د سهار لپاره نور اوړه نه دي لانده کړي. نه پوهېږم چې سبا څه وکړو. ستا په اند به سهار د ګاونډۍ مارتېا نه یوه برخه ډوډۍ په پور اخیستی وشم؟»

«که ژوندي وو خو یو څه به د خوړلو هم پیدا شي.»

ښځه یو موده هېڅ و نه ښورېده. وروسته بیا وغږېده، «هغه د ښه انسان په شان دی، خو ولې موږ ته نه وایي چې څوک دی؟»

«حتمن د دې لپاره کوم دلیل لري.»

«سیمونه؟»

«څه؟»

«موږ تل هر څه وېشو خو ولې هېڅوک موږ سره هېڅ هم نه وېشي؟»

سیمون نه پوهېد چې څه ځواب ورکړي، د دې لپاره غلی پاتې شو. ویې ویل: «غږېدل به بس کړو» بیا یې شا واړوله او ویده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

سیمون سهار وینښ شو. ماشومان یې لا تر اوسه ویده و، ښځه یې د یو برخه ډوډۍ اخیستلو لپاره د ګاونډۍ کور ته ولاړه. پردی په څوکۍ یوازې ناست و او په ځان کې یې زوړ کمیس او پرتوګ و. پردي سړي مدام پورته کتل. څېره یې د تېرې ورځې په پرتله ډېره روښانه وه.
سیمون ورسره وغږېد، «ډېر ښه ملګریه. پوهېږې چې معده مو ډوډۍ غواړي او لوڅ ځان مو هم کالي. انسان اړ دی چې کار وکړي څو ژوندی پاتې شي. ته کوم کار زده لرې؟»
«ستا کور کار زده دی؟»

دې ځواب سیمون ډېر حیران کړ، خو بیا هم هغه وویل: «انسان هر کار چې وغواړي زده کولای شي.»
«هو، ټول انسانان کار کوي، زه به هم کار وکړم.»
«نوم دې څه دی؟»
«مېخایل.»
«ډېر ښه مېخایله. که نه غواړې چې د ځان په هکله وغږېږې سمه ده، دا ستا کار دی. خو اړ یې چې خپل ژوند خپله وګټې. په همدې شرط درته خواړه او استوګنځای درکولای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خدای دې تاسو ته اجرونه درکړي! ما ته یوازې ووایئ چې څه وکړم؟ زه به یې زده کړم.»

سیمون تار واخیست، خپل په شست گوته کې یې تاو کړ او ښه یې وپېچه.
«گوره! ډېر آسانه دی...»



مېخایل هغه وکتل او پوه شو چې څه وکړي. تار یې په خپل شست گوته کې تاو کړ او ښه یې وپېچه.

بیا سیمون هغه ته د تارونو یو ځای کول هم زده کړل. مېخایل په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې هم له ځان نه چټکتیا وښوده. وروسته سیمون ورته زده کړه چې څنګه د تار کوټونه ټول کړي او هغوی وګنډي. مېخایل دا هم په یو ځل کې زده کړه.

څه چې سیمون ورته ښودل هغه په یو ځل کې زده کول. درې ورځې وروسته یې داسې بوټانو ګنډل چې چا به ویل آن ټول ژوند یې بوټ جوړولو سره تېر شوی. بې له دمه یې کار کاوه او لږ خواړه یې خوړل. کله چې کار یې پای ته رسېده غلی به ناست و او مدام به یې پورته کتل. ډېر په ندرت بهر تلو، یوازې د اړتیا پر مهال غږېده او هېڅکله یې ټوکې ټکالې نه کولې او یا نه خندېده. هېڅ چا نه و لیدلی چې وروسته له هغه لومړۍ شپې چې ماتریونا ورته خواړه ورکړي و، وخاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ٦

شپې او ورځې پرله پسې تېرې شوې او يو کال تېر شو. د يو کال په اوږدو کې مېخايل سيمون سره ژوند او کار وکړ. د مېخايل نوم هر چېرې خپور شوی و. ځکه چې هر چا به ويل چې د سيمون کارکوونکی ميخايل تر ټولو ښه بوټان جوړوي. له همدې کبله د ټولو کليو څخه خلک د بوټ جوړولو لپاره سيمون ته تلل. په دې توګه د سيمون کار هم وده وکړه.



د ژمي په يوه ورځ کې چې سيمون او مېخايل په کار بوخت و يو درې آس لرونکې چَين داره ګاډۍ د هغوی کوډلې مخې ته ودرېده. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړکۍ نه يې بهر وکتل، ګاډی د دروازې مخې ته درېدلې وه. له دروازې څخه د پاکو جامو خاوند يو نوکر ښکته شو او دروازه يې پرانیسته.

بیا له ګاډي نه سر تر پښو په پوستینونو پوښلی يو سړی ووته. تر کوډلې پورې په پښو ولاړ. ماتریونا والوته او دروازه يې پرانیسته. ښاغلي کوډلې ته پښه کښېښوده او کله چې دننه شو لږ پاتې و چې ککره يې په چت ولږیږي. خورا لوی و، له دې کبله د کوټې لویه برخه يې نیولې وه. سیمون له خپل ځایه جګ شو او په حیرانتیا يې سړي ته وکتل. تر اوسه پورې يې داسې څوک نه و لیدلی. سیمون لوږه ونه درلوده، مېخایل هم ډنګر و او ماتریونا لکه لرګي وچه وه. خو دا سړی داسې و چې له کوم بلې نړۍ څخه راغلی وي : سور مخ، لوی بدن او غوبي ته ورته غاړه يې درلوده. داسې ښکارېده چې سر تر پښو له وسپنې جوړ دی.

ښاغلي يوه ژوره ساه ویسته. بیا خپل پوستین يې ویست او په څوکۍ کښېناست.

وغږېد: «کوم يو مو د بوټ جوړولو استاد يئ؟»

سیمون وویل: «زه يم صیب،» وړاندې شو.

بیا ښاغلي خپل نوکر ځان څخه نږدې وغوښته.

«وه هلکه فدکا! چرم راوړه!»

نوکر وځغاست او يوه کڅوړه يې راوړه . ښاغلي کڅوړه واخیسته او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېز باندې یې کښېښوده.

ویې ویل: «گنډه پرانیځه،» نوکر ژر پرانیسته.

ښاغلي چرم وښود.

هغه وویل: «دې خوا وگوره بوټجوړوونکیه، دا چرم گورې؟»

«هو صیب.»

«نو ته پوهېږې چې دا د څه چرم دی؟»

سیمون چرم وڅېړه. «دا ډېر ښه چرم دی.»

«هو، بلکل! اې نادانه، تا به آن خپل په ټول عمر کې داسې چرم نه وي لیدلی. دا له آلمان څخه ځانگړی راوړل شوی. شل ربله یې بیه ده.»

سیمون وویرېد، «ما به داسې چرم چېرته لیدلی وای؟»

«هو، همداسې ده! اوس ووایه. آیا ته له دې نه زما لپاره بوټونو جوړولای شې؟»

«هو صیب، جوړولای شم.»

ښاغلي پرې چیغه کړه: «جوړولای شې که نه؟ دا مه هېروه چې بوټان د چا لپاره جوړوې او د چرم ارزښت څه دی! غواړم چې باید یو کال واغوستل شي، نه یې ډول خراب شي او نه یې گنډ وشلیږي. که دا کولای شې چرم واخله او پرې یې کړه؛ خو که دا نشې کولای ما ته ووایه. که د یو کال په اوږدو کې وشلیږي او یا خپل ډول له لاسه ورکړي تا به بندي کړم. که په یو کال کې و نه شلیږي او یا خپل ډول له لاسه ور نه کړي تا ته به لس ربله درکړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمون وېرېدلی و او نه پوهېد چې څه ووايي. د مېخايل خوا ته يې وکتل او د هغه په ځنګون يې ټونګه ورکړه. ورته يې وويل: «دا کار واخلو؟»

مېخايل په سر خوځولو هو کړ.

سیمون د مېخايل مشورې سره سم د يو کال په اوږدو کې د نه خرابېدونکو بوټانو جوړولو دنده ومنله.

ښاغلي خپل خدمتګار ځان ته رانږدې کړ. خپل کيڼه پښه يې ورته وړاندې کړه. د هغه نه يې وغوښتل تر څو کيڼ بوټ يې وباسي.

«اندازه مې واخله.»

سیمون د اتلسو انچو په اوږدو يو کاغذي بېلګه وګنډله. کاغذ يې نرم کړ، بیا په ځمکه کښېناست؛ د دې لپاره چې د ښاغلي جورابه ککړه نکړي خپل لاس يې د کار په لمنې پاک کړ او اندازه يې واخيسته. پښې يې اندازه کړې. بیا يې د پښې حلقه اندازه کړه. کله چې پښه يې اندازه کوله ویې لید چې دا کاغذ دې پښې لپاره ډېر لنډ دی، دومره لنډ و چې د پښې پورته برخې ته هېڅ نه رسېد.

«پام کوه چې د پښې پورته ځای ډېر پراخ و نه نيسې.»

بیا سیمون يوه بله بېلګه وګنډله. ښاغلي خپلې ګوتې د جورابو په منځ کې ښورولې او خپل شاوخوا خلکو ته يې وکتل. مېخايل يې ولید:

ويې پوښتل: «دا څوک دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«دا زما کارکوونکی دی. بوټان به هغه جوړ کړي.»
ښاغلي وویل: «مه هېروه، یو کال یې اغوندم!»
سیمون هم مېخایل ته ولید او په دې یې پام شو چې مېخایل ښاغلي ته نه گوري. مېخایل د ښاغلي شا خوا ته گوښې ته کتل، لکه دا چې هلته یې کوم څوک لیدلي وي. مېخایل هلته یو څه موده وکتل. بیا ناڅاپه مسکی شو او مخ یې وځلېد.
ښاغلي پرې چیغه کړه: «اې لوده ته څه ته خاندې؟ ښه به دا وي چې بوټان پر وخت جوړ کړې!»

مېخایل وویل: «هو بوټان به په وخت جوړ شي.»
ښاغلي وویل: «ښه به شي،» بیا یې خپل بوټان او پوستین واغوستل او له دروازې څخه ووت. خو ټیټېدل یې هېر شول. نو ځکه یې سر په دروازې ولږېد.
ښاغلي ښکنځلې وکړې او خپل سر یې وگراوه. وروسته بیا په گاډۍ کې سپاره شول او ولاړل.
همدا چې سړی ولاړه سیمون وویل: «دا دی اصیل سړی! آن په تبر یې هم نشې وژلای. نږدې و چې دروازه ماته کړي خو خپل ځان ته یې هېڅ زیان و نه رسېد.»
ماتریونا وویل: «هو څوک چې داسې ښه ژوند ولري، دا عادي خبره ده چې دومره پیاوړی وي. آن مرگی هم پرې اغېز نکوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

وروسته سیمون مېخایل ته وویل: «کار مو واخیست خو په دې نه پوهېږو چې زموږ په گټه به وي که په زیان. چرم ډېر گران دی او ښاغلی هم خورا غوسه ناکه. په دې کار کې باید هېڅ تېروتنه و نه کړو. راشه، ستا سترگې زما نه لا نور هم چُستې دي. لاسونه دې هم زما نه چټک دي . ته اندازه واخله او بوټانو ته ډول ورکړه او زه به گنډل وکړم.»
څه چې سیمون وویل مېخایل هم وکړل. چرم یې واخیست او په مېز باندې یې هوار کړ بیا یې دوه قاته کړ. هغه یې په چاړه پرې کړ. د پرې کولو پر مهال ماتریونا هم هغه ننداره کړ، د هغه په دومره چټکتیا حیرانه شوه. ماتریونا تل د بوټجوړولو ننداره کړې وه خو دا ځل په دې پوه شوه چې مېخایل چرم د بوټ جوړولو سره سم نه پرې کوي بلکې په دایروي ډول یې پرې کوي.

غوښتل یې چې یو څه ووایي. خو ځان سره یې داسې فکر وکړ: «ښایي زما سم پام نه وي شوی چې ښاغلي څه ډول بوټان وغوښتل. ښایي مېخایل په دې اړه زما نه ډېر وپوهیږي... باید ورسره کار و نه لرم.»

مېخایل د چرم پرې کول پای ته ورسول. وروسته یې تار واخیست تر څو یې وگنډي. خو هغه چرم د یو کونج څخه نه بلکې د دوه کونجونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه وګنډه. حال دا چې د ښاغلي بوټان پکار و او دوه کونجه جوړښت د بوټانو لپاره مناسب ندی بلکې د څپلیو لپاره مناسب دی.

ماتربونا یو ځل بیا هکه پکه شوه خو بیا یې هم هېڅ و نه ویل. مېخایل تر غرمې پورې ګنډل وکړل. سیمون د ډوډۍ خوړلو لپاره راغی. هغه ولیدل چې مېخایل د ښاغلي له چرمه څپلۍ جوړې کړي.
سیمون «آه» ویست او ویې ویل: «هغه مېخایل چې په دا یو کال کې آن یو ځل هم تېروتنه نه وه کړې څنګه داسې لویه خطا وکړه؟»

ښاغلي له هغوی نه اوږده بوټان غوښتي و خو کوم قالب چې مېخایل جوړ کړی و د څپلیو لپاره و. ټول چرم حیف شو. «ښاغلي ته به څه ووایم؟ اوس به څنګه شونې وي چې دومره ګران چرم واخلم او د دې په ځای یې کښېدم؟»
مېخایل ته یې مخ واړو، «ته څه کوې اې ملګریه؟ زه دې تباه کړم! ته ښه پوهېدې چې ښاغلی اوږده بوټان غواړي. خو وګوره چې تا څه کړي!»
کله چې سیمون په میخایل باندې پټکې کولې دروازه وټکېده. هغوی له کړکۍ څخه بهر وکتل. یو آس لرونکی یې ولید چې خپل آس بندوي. دروازه یې پرانیسته. دا د ښاغلي همغه نوکر و، دننه راغی.

«ورځ مو پخیر.»
سیمون ځواب ورکړ: «ورځ پخیر. څنګه درسره مرسته کولای شو؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«آغلې زه د بوټانو په هکله لېږلی یم.»

«په بوټانو څه شوي؟»

«زما بادار نور ورته اړتیا نلري. هغه ومړ.»

«دا څنګه امکان لري؟»

«کله چې موږ له دې ځایه ووتو آن دومره یې عمر و نه کړ چې تر کوره ورسیږي. په ګاډۍ کې روان وو چې مړ شو. کله چې کور ته ورسېدو نورو نوکرانو هم مرسته وکړه خو ډېر دروند و. لکه بوجۍ په ځمکه وغورځېده. هغه نور مړ و. کلک پاتې و، نو ډېر ګران و تر څو له ګاډۍ نه یې وباستو. آغلې زما نه وغوښتل څو بوټجوړوونکو ته ووایم، هغه سړي چې بوټان غوښتي و او د دې لپاره یې چرم پرې ایښی و نور بوټانو ته اړتیا نلري. هغې وویل چې د مړي لپاره یې نرمې څپلۍ جوړې کړئ. ما ته یې وویل چې تر هغه پورې هلته پاتې شه چې څپلۍ جوریږي. زما د راتګ لامل همدا دی.»

مېخایل د چرم ټوټې ټولې کړې او ویې تړلې. هغه نرمې څپلۍ یې چې جوړې کړې وې په یوبل ونښلولې. هم څپلۍ او هم چرمونه یې خدمتګار ته وسپارل. سړي هغوی واخیستل او ویې ویل: «د ځان خیال ساتئ ماهرو بوټ جوړوونکو، ورځ مو پخیر!» بیا ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

دوه کاله نور هم تېر شول. دا شپږم کال و چې مېخایل سیمون سره ژوند کاوه. د مېخایل ژوندون په همغه شان دوام درلود. هېڅ ځای ته نه تلو، یوازې د اړتیا پر مهال غږېده او په دا شپږ کالو کې یوازې یې دوه ځلې خندلې وې: کله چې ماتریونا ورته خواړه ورکړل او کله چې ښاغلی ورکره راغلی و.

سیمون د خپل کارکوونکي څخه ډېر خوښ و. هېڅکله یې ورنه نه پوښتل چې له کوم ځایه راغلی او له دې ډارېده چې مېخایل به یوه ورځ دا ځای پرېږدي او ولاړ شي.

یوه ورځ ټول په کور کې و. ماتریونا په تنور باندې دېگونه ځای پر ځایول، ماشومانو په چمن کې منډې رامنډې وهلې. سیمون د کړکۍ په څنګ کې ناست و او ګنډل یې کول. مېخایل د بلې کړکۍ په څنګ کې ناست و او یو بوټ یې سریښاوه.

یو له ماشومانو څخه د مېخایل کړکۍ ته نږدې شو. مېخایل هم خپل سر ورته ټیټ کړ.

«وګوره مېخایل تره! هلته یوه ښځه ده. دې خوا ته راروانه ده! دوه کوچنۍ نجونې هم ورسره دي! یوه جینۍ په پښه ګوډه ده.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغه د ماشوم دا خبره واورېده خپل کار یې نیمګړی پرېښود او په کړکۍ باندې ونښلېد. کوځې ته ځیر شو.

سیمون هک پک شو. ځکه چې مېخایل مخکې له دې نه هېڅ کوځې ته نه کتل. خو اوس په کړکۍ نښلېدلی و او کوم څه یې ننداره کول. بیا سیمون هم بهر وکتل. هغه هم ولید چې یوه د ښو جامو خاونده ښځه او دوه ماشومان د هغوی کور خوا ته راروان دي. انجونو پوستي یالانونه اغوستي و. جینکیو دومره یوبل ته ورته والی درلود چې یوه تر بلې جلا کېدای نه شوه. خو د یوې کیڼه پخه ګوډه وه او ګوډه ګرځېدله.

هغوی په برنډې پښه کېښوده، بیا کور ته ننږدې شول. ښځې ور پرانیست، لومړی یې انجونې دننه کړې بیا خپله دننه شوه.

«ورځ مو پخیر ښکلو خلکو!»
سیمون وویل: «ورځ مو پخیر. هیله کوم دننه راشئ، تاسو سره څه مرسته کولای شو؟»
ښځه د مېز په څنګ کې کښېناسته. دوه کوچنۍ انجونې یې د پښو څنګ کې ودرېدې. هغوی په کوډله کې له شته کسانو نه وېرېدلې وې.

«د دا دوه کوچنۍ انجونو لپاره یو-یو جوړه پسرلني بوټان مې پکار دي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ښه، دا کولای شو. که څه هم موږ هېڅکله دومره کوچني بوټان نه دي جوړ کړي خو بیا هم جوړولای یې شو. هم ګنډل شوي او هم نښلېدونکي بوټان جوړولای شو. زما کارکوونکی مېخایل په دې کار کې خورا ماهره دی.»

سیمون مېخایل ته وکتل او پوه شو چې د هغه فکر په کار باندې ندی. کار یې پرې ایښی و او کوچنۍ انجونو ته یې پام و. سیمون په دې حیران شو. انجونې په رښتیا هم خوږې وې. توري سترګې یې درلودې، مخونه یې ښکلي و او سره اننګي یې درلودې. په ځانونو کې یې هم ښایسته جامې او پوستیني شالونه و. خو سیمون لا هم پوه نه شو چې مېخایل ولې ورته په دې شان لیدل، لکه دا چې هغوی پېژني. سیمون ښځې سره وغږېد او بیه یې وټاکله. وروسته له دې چې په بیه توافق وشو د اندازې اخیستو لپاره چمتو شول. ښځې لومړی ګوډه ماشومه په غیږ کې ونیوله او ویې ویل: «د دې ماشومې څخه دوه اندازې واخلئ، یو د ګوډې پښې لپاره او بل د روغې لپاره. د دې بلې جینۍ اندازه اخیستو ته اړتیا نشته. هغه په دې چې د دواړو پښې یو اندازه دي. ځکه چې دوی دواړه غبرګوني دي.»

سیمون اندازې واخیستې او ګوډې جینۍ سره یې خبرې پیل کړې.
«څنګه داسې وشو؟ ته خو ډېره ښکلې جینۍ یې.»
ښځې ته یې وویل: «په همدې توګه وزېږېده؟»
«نه، مور یې پښه ورماته کړې وه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتریونا په خبره کې ننوته. غوښتل یې چې پوه شي چې دا ښځه څوک ده او دا ماشومان د چا دي. «آیا تاسو د دوی مور نه یاست؟»

«نه خور جانې، زه نه د دوی مور یم او نه هم دوی سره کوم خپلوي لرم. خو ما هغوی خپل بچي ګڼلي او راباندې ډېر ګران دي.»

«یعنې دوی ستاسو ماشومان ندي خو تاسو هغوی سره دومره ډېره مینه لرئ؟»

«څنګه کېدای شي چې ورسره مینه و نه لرم؟ دواړو ته مې خپلې شیدې ورکړي. ما هم یو ماشوم درلود چې په خپله مې زېږولای و. خو خدای هغه بېرته ځان څخه واخیست. ما خپل زوی سره ډېره مینه درلوده خو اوس دوی سره هم ډېره مینه لرم.»

«ښه نو دوی د چا ماشومان دي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

ښځې هغوی ته ټوله کیسه وکړه.

«کابو شپږ کاله شول چې د دوی مور او پلار مړه شول. دواړه په یوه اونۍ کې مړه شول. پلار یې په سېشنبې کې او مور یې په جمعې ورځ کې ښخ شول. دا یتیمان درې ورځې وروسته د خپل پلار له مړینې وځېږېدل او مور یې هم آن یوه ورځ ژوندۍ پاتې نه شوه. زه او مېړه مې د دوی ګاونډیان وو. زموږ او د دوی حوېلۍ ګانې څنګ پر څنګ وې. د دوی پلار یو یوازې کس و، دنده یې په ځنګله کې لرګي ماتول و. یوه ورځ کله چې هغه ونه ماتوله، لویه ونه پرې نړېدلې وه. ونه د سرې په ځان غورځېدلې وه او کولمې یې ورته باستلې وې. یو څو ساعته ژوندی و خو مخکې له دې چې کور ته ورسول شي مړ شوی و. په همغه اونۍ یې مېرمن غبرګوني وزېږول... همدا کوچنۍ انجونې. هغه بې وزله او بې کسه وه. هېڅ څوک یې نه درلود چې ورسره پاتې شي. دوی یې په یوازې ځان وزېږول او په همغه شان یوازې مړه شوه.

په سبا یې زه لیدو ته ولاړم. خو کله چې زه کور ته ننوتم بېچاره ښځه مړه شوې وه او ځان یې کلک او سوړ شوی و. د ځانقدن پر مهال یې دا ماشومه په غېږ کې کلکه نیولې وه. ځکه یې پښه ورټېپي کړې ده. وروسته نور کلیوال هم کوډلې ته راغلل، جسد مو ومیځه. بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو دباندې وباسته او د هغه لپاره مو یو تابوت جوړ کړ او ښخه مو ښخه کړه. کلیوال ښه خلک و، ماشومان یوازې پاتې و او ټولو فکر کوه چې په ماشومانو څه وکړي؟ د هغوی په منځ کې یوازې زه وم چې د بل ماشوم خاونده وم. ما خپل بچي ته هم شیدې ورکولې. د دې لپاره دوی یې ما ته راکړل او ما هم ومنل. کلیوالو ما ته وویل: «ماري، اوس لپاره اینجونې ته واخله بیا راتلونکي کې به د هغوی لپاره یو حل لاره ومومو.»

ما لومړی روغې ته شیدې ورکولې او گوډې ته مې شیدې نه ورکولې. ځکه چې ډاډ مې نه درلود چې هغه به ژوندۍ پاتې شي. خو بیا ځان سره مې فکر وکړ چې ولې دا معصومه یتیمه وځوروم؟ زړه مې پرې وسو او هغه ته مې هم خپل شیدې ورکړې. په دې توگه خپل زوی سره مې یو ځای دوی دوه هم مړولې... درې واړه... په خپلو شیدو... زه هغه مهال ځوانه او پیاوړې وم، ښه خواړه مې خوړل او آن خدای ما ته دومره ډېرې شیدې راکړې وې چې بهېدې. کله به مې دوه وو ته په یو وخت کې شیدې ورکولې. چې یو یې مړېده بیا به د بل وار و. خو د خدای تقدیر داسې و چې دوی دواړه ژوندۍ وي او زما خپل زوی د دوه کلنۍ څخه مخکې ومري. ما بل ماشوم و نه زېږو. موږ سوکاله وو. مېړه مې د جوارو یو سوداگر و. ښه معاش یې درلود او زموږ ژوند پرې جوړ و. زه ماشوم نلرم خو که دوی هم راسره نه وای زه به ډېره یوازې وای! څنگه به دوی سره مینه و نه لرم؟ دوی زما ټول ژوند دي!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو لاس باندې یې ګوډې ماشومې ته غېږه ورکړه او په بل لاس یې خپلې اوښکې پاکې کړې.

ماتریونا ژوره ساه واخیسته او وغږېده: «دا خبره رښتیا ده چې وايي: «انسان پرته له مور او پلاره ژوند کولای شي خو پرته له خدایه ژوند نشي کولای.»

په دې حال کې کور داسې روښانه شو لکه لمر چې د کور منځ ته دننه شوی وي. رڼا د مېخایل د ناستې ځای څخه پورته کېده او ټولو هغه ته کتل. هغه لاس په څنګون ایښی و او ناست و، پورته یې لیده او پر مخ یې مسکا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

ښځه او جینکۍ ولاړې. مېخایل په پښو ودرېد. وروسته بیا د سیمون او ماتریونا په مخه کې په ځنګانه کښېناست او دا یې وویل: «د خدای په امان صایب! خدای زه وبخښلم. ستاسو نه یوازینۍ هیله مې دا ده چې که ما کومه تېروتنه کړې وي ومې بخښئ.»

هغوی ولید چې په مېخایل باندې رڼا ځلیږي. سیمون له خپل ځایه پورته شو او د مېخایل په مخه کې ټیټ شو او وغږېد: «مېخایله، زه ګورم چې ته یو عادي انسان نه یې. نه دې نیولی شم او نه دې څارلی شم. یوازې ما ته دا ووایه چې هغه وخت چې ته مې وموندې او کور ته مې راوړې، روحي حالت دې ډېر خراب و او کله چې مېرمن مې تا ته خواړه درکړل مسکی شوې او مخ دې روښانه شو. بیا کله چې ښاغلی راغی او بوټان یې وغوښتل بیا په خندا شوې او لا نور هم روښانه شوې. په آخر کې بیا اوس، کله چې دا ښځه خپلو دوه کوچنۍ لوڼو سره راغله د درېیم ځل لپاره دې وخندل او لکه لمر وځلېدې... ما ته ووایه مېخایله، ستا څېره ولې په دې شان ځلیږي او ولې یوازې درې ځله وځلېده؟»

مېخایل ځواب ورکړ:« د هغه ځلېدو لامل مې دا و چې زه خدای سزایي کړی وم خو د اوسنۍ ځلا لامل مې دا دی چې خدای زه وبخښلم. خدای غوښتل چې زه په درېیو حقیقتونو پوه شم. ځکه نو ما درې ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخندل. زه په دغو حقیقتونو باندې پوه شوم. په لومړي حقیقت باندې کله چې ستا ښځې په ما باندې زړه سوی وکړ پوه شوم. د دې لپاره مې مسکا کړې وه. په دویم حقیقت کله چې شتمن سړی د بوټ جوړولو لپاره راغلی و پوه شوم او بیا مې مسکا وکړه. اوس مې کله چې دا کوچنۍ جینکۍ ولیدې په درېیم او وروستي حقیقت پوه شوم او د دې له امله مې د درېیم ځل لپاره مسکا وکړه.»

سیمون وویل: «آیا ما ته وایلی شې چې خدای ولې تا ته سزا درکړه؟ او دا درې حقیقتونه څه دي؟ ووایه تر څو زه هم پرې پوه شم.»
مېخایل ځواب ورکړ: «خدای زه ځکه سزایي کړم چې ما د هغه له امر څخه سرغړونه وکړه. زه په جنت کې یو پرښته وم. خدای زه ولېږلم تر څو د یوې ښځې ساه واخلم. ځمکې ته ښکته شوم او ولاړم یوه رنځوره ښځه مې ولیده چې یوازې پرته وه. غبرګوني ماشومان یې نوي زېږېدلي و. انجونې بېوزله وې او د خپل مور په څنګ کې بې خیاله پرتې وې خو ښځې نه شوای کولای چې هغوی خپلو سینو ته پورته کړي. بیا کله چې ښځې زه ولیدم پوهه شوه چې زه خدای لېږلی یم څو د هغه ساه واخلم. ما ته یې دا وویل: «اې د خدای پرښتې! زما مېړه لږ موده وړاندې د یوې ونې لاندې شو او ومړ. نه مې خور، نه مې مور او نه مې خاله شته. هېڅ څوک زما د بېوزلو یتیمانو پروا نه لري. هیله کوم زما ساه مه اخله! پرېږده چې ماشومانو ته مې شیدې ورکړم، لویې یې کړم او لږ تر لږه وګورم چې هغوی خپل په پښو ګرځېدلای شي، بیا مې ساه واخله. ماشومان پرته له مور او پلاره ژوند کولای نشي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې پر حال خپه شوم، بيا مې يوه ماشومه د هغې پر سينې تکيه کړه او بله مې د هغې په لاسونو کې کښېښوده. بېرته جنت ته والوتم او د خدای څنګ ته ولاړم. بيا مې خدای ته وويل: « ما و نه کولای شو چې د هغې مور ساه واخلم. مېږه يې د ونې لاندې شوی او مړ شوی. دوه دانې کوچني ماشومان لري او دعا يې وکړه چې ساه يې وانه خيستل شي. ويل يې چې پرېږده چې ماشومانو ته مې شيدې ورکړم ځو هغوی لوی کړم او وګورم چې خپل په پښو ګرځي. بيا يې وويل چې ماشومان پرته له مور او پلاره ژوند کولای نشي. د دې له امله مې د هغه ساه وانه خيسته.

خدای ما ته وويل: «ولاړ شه د مور روح واخله او په درې حقيقتو پوه شه! بني آدم سره يو ځای په ژوند کولو پوه شه! په دې پوه شه چې بني آدم ته څه ندي ورکړل شوي! په دې په شه چې سړی څه سره ژوند کوي! تر هغه بېرته جنت ته مه ګرځه چې په دوی پوه شوې!»

وروسته بيا ځمکې ته ښکته شوم او د هغې مور ساه مې واخيسته. يو ماشوم يې له لاسه ولوېد، او بېچاره ښځه په يو اړخ شوه او بل ماشوم يې د ځان لاندې شو. د ماشومې پښه يې ورژوبله کړه. بېرته پورته شوم او هڅه مې وکړه چې د هغه روح خدای ته يوسم؛ خو باد زه منع کړم او وزرونه مې کاږه شول او ولوېدم. د ښځې روح خدای ته يوازې پورته شو. زه هم بېرته ځمکې ته ولوېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

اوس سیمون او ماتریونا پوه شول چې هغه څوک چې هغوی سره دومره وخت په یو ځای ژوند وکړ او ورته یې خوراک او څښاک ورکړل څوک دی. هغوی د خوشحالۍ ژړا وکړه. پرښتې ورته داسې وویل: «په ځمکه کې یوازې او لغړ وم. تر هغه پورې چې انسان شوم، د انسانانو په هېڅ اړتیاوو نه پوهېدم. نه په سړو پوهېدم، نه په ولږې او نه په تندې. خو وږی وم او لږ پاتې و چې د یخ نه کنګل شم. خو نه پوهېدم چې څه وکړم. په لاره کې مې یو عبادتځای ولید چې د خدای په نامه جوړ شوی و. ما وغوښتل چې هلته پناه یوسم. خو د عبادتځي دروازه تړلې وه او هلته تللای و نه شوم. څکه نو د عبادتځي شا ته ولاړم او هڅه مې وکړه چې څومره چې کولای شم له باده خوندي پاتې شم. بیا ماښام شو. زه هم وږی وم هم ډېر یخ وهلی وم او هم په درد کې وم. ناڅاپه مې ولید چې یو څوک له لارې تېرېږي. یو جوړه زاړه بوټونه یې په لاس کې و او ځان سره په لوړ غږ غږېده. ما د هغه په مخ کې مرګی ولید. له هغه راهیسه چې انسان شوی وم، دا لومړی ځل و چې د یو سړي له مرګیه ډک مخ مې ولید. ستا مخ ډېر بد ښکارېده. څکه نو ما خپل مخ بل اړخ ته واړو. بیا مې ستا غږ واورېد چې شکایت دې کوه چې څنګه به پرته له پوستینه ژمی تېروم. ما ځان سره ویل:« زه د سړو او ولږې له کبله مخ په مړ کېدو یم او دا سړی یوازې د دې په فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې څنګه پوستین واخلي. نه هغه ما سره مرسته نشي کولای.»
کله چې تا زه ولیدم خپلې وریژې دې پورته کړې او لا نور هم وېروونکی شوې. داسې دې ښکاره کړ چې زه دې نه یم لیدلی. هغه وخت ډېر ناهیلی شوی وم، خو ناڅاپه مې ولید چې بېرته راوګرځېدې. ککره مې پورته کړه خو ته مې پېژندلای و نه شوې. ځکه چې لږ وړاندې مې ستا په څېره کې مرګی لیدلی و خو نور دې مخ له ژوندونه ډک و او ستا په زړه کې مې د خدای جلوه ولیده. راغلې، زه دې وپوښلم او زه دې ځان سره خپل کور ته بوتلم. کله چې کور ته راغلو ستا ښځې ماتریونا موږ بدرګه کړو او بیا وغږېده. د ښځې څېره دې ستا په پرتله لا نوره هم وېرناکه وه، مرګی یې له خولې بهېده. هغې د مرګي څړیکې په کور کې خپرولې او له دې کبله ما ساه نشوه اخیستی. ماتریونا غوښتل چې ما بېرته بهر کړي. خو زه پوهېدم چې که هغه دا کار وکړي هغه مري. ځکه چې زه پرښته یم او په دې پوهېدلای شوم. بیا ته ورته د خدای په اړه وغږېدې او ناڅاپه بدله شوه.
هغه مهال چې ماتریونا ما لپاره خواړه راوړل، ورته مې وکتل. نور نو د ماتریونا له ځانه مرګی لېرې شوی و؛ ماتریونا ژوندۍ وه او ما د هغې په ځان کې هم د خدای جلوه ولیده.

بیا په لومړي حقیقت باندې پوه شوم. خدای ویلي و چې « پوه شه چې د انسان په زړه کې څه ژوندي دي!» او زه هغه شېبه پوه شوم چې د انسان په زړه کې مینه ژوند کوي! خوشحاله پر دې وم چې خدای ما ته هغه څه وښودل چې ژمنه یې کړې وه څو ما ته یې وښايي. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبله د لومړي ځل لپاره مې مسکا وکړه. خو لا په هر څه نه وم پوه. لا باید په دې پوهېدم چې انسان ته څه ندي ورکړل شوي او انسان څه سره ژوندی وي.

تاسو سره مې په ګډه ژوند وکړ او یو کال تېر شو تر څو یو سړی راغی او داسې بوټونه یې وغوښتل چې په یو کال کې خراب نشي. کله چې هغه ناست و ورته مې وکتل. ناڅاپه مې د هغه په شا کې د دېوال په څوکه کې خپل ملګری ولید. دا ملک الموت و... پرته له ما هېڅ چا هغه پرښته لیدلای نشوه، خو ما هغه پېژندله او په دې پوهېدم چې وړاندې له دې چې لمر ولوېږي د شتمن سړي ساه اخلي. له ځان سره مې فکر وکړ:«سړی د یو کال وروسته لپاره چمتو والی نیسي خو خبر ندی چې مخکې له ماښامه مري.»
زه هغه وخت د خدای په بلې وینا پوه شوم چې ویل یې:« پوه شه چې بني آدم ته څه ندي ورکړل شوي.»

مخکې له دې پوهېدلی وم چې د بني آدم په ځان کې څه ژوندي دي، اوس هم پوه شوم چې بني آدم ته څه ندي ورکړل شوي. دا دویم ځل و چې مسکی شوم. دا د دې لپاره چې هم خپل ملګرې پرښته مې ولیده او هم په دویم حقیقت پوه شوم.

خو لا هم په ټولو حقیقتونو پوه نه وم. لا نه پوهېدم چې بني آدم څه سره ژوندي دي. په همدې توګه مې ژوند ته ادامه ورکړ تر هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای راته وروستی حقیقت وښود. په شپږم کال کې غبرګولې انجونې او یوه ښځه راغلل؛ کله چې ما انجونې ولیدې هغوی مې وپېژندې. ما اورېدلي و چې هغوی څنګه ژوندۍ پاتې شوې وې. وروسته له دې چې ښځې کیسه وکړه ما داسې فکر وکړ: «د دوی مور زارۍ کولې چې ماشومان به یې بېوزله شي. هغې دا ویل چې ماشومان پرته له مور او پلاره ژوند کولای نشي، ما هم پرې باور کړی و؛ حال دا چې یوې پردۍ ښځې هغوی ساتلي او لوی کړي دي.»

دا ماشومان د هغې ښځې نه و خو هغوی سره یې ډېره مینه درلوده. او بیا د هغوی لپاره یې اوښکې هم تویې کړې. هغه مهال مې د هغې په منځ کې د خدای څرېکه ولیده او پوه شوم چې انسانان څه سره ژوندي دي. خدای ما ته درېیم حقیقت وښود او زما ګناه یې وبخښله. له دې لامله مې درېیم ځل مسکا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

د پرښتې وينا پای ته ورسېده. د هغه په ځان باندې ځلانده رڼا چاپېره شوه. نور نو هغه ته ليدل ناشونې و، غږ يې لا نور هم غور شو، غږ يې داسې و لکه له جنته چې راځي.
پرښتې دا ويل: «په دې پوه شوم چې انسانان د مينې لپاره ژوندي دي.

هغې مور ته دا پوهه نه وه ورکړل شوې چې په ماشومانو يې څه کيږي. او نه هغه شتمن سړی په دې پوهېده چې څه ته اړتيا لري. نه پوهېده چې بوټونو ته اړتيا لري که خپل مړي لپاره څپليو ته. د دې پوهېدل هغه څه دي چې هېڅ انسان ته ندي ورکړل شوي.

په دومره موده کې زه هم د نورو انسانانو په شان وم. وسه مې نه درلوده چې ځان خوندي وساتم؛ خو زه ځکه ژوندی پاتې شوم چې د يو مسافر په زړه کې مينه وه او هم هغه، هم د هغه ښځې په ما رحم وکړ او ما سره يې مينه وکړه.
هغه يتيمانې ژوندۍ پاتې وې، خو د دې لامل دا نه و چې د هغوی مور ورسره وه. بلکې د يوې پردۍ د مينې له کبله ژوندۍ پاتې وې.
انسانان يوازې د ځان لپاره ژوند نه کوي، انسانان په هغې مينې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه کې يې شتون لري ژوندي دي.

پخوا په دې پوهېدم چې خدای څکه انسانانو ته ژوند ورکړی چې غواړي هغوی ژوند وکړي. خو اوس لا په ډېر څه پوهېږم.
اوس په دې پوهېږم چې خدای نه غواړي چې انسانان له يوبله بېل ژوند وکړي. د همدې لپاره خدای نه څرګندوي چې هر انسان د خپل ځان لپاره څه ته اړتيا لري، خدای دومره غواړي چې انسانان په ګډه ژوند وکړي او دا هر يو ته د اړتيا وړ په اندازه ښايي.

زه پوه شوم چې آن سړی که ډېر مغرور هم وي بيا هم د مينې لپاره ژوند کوي! څوک چې د مينې خاوند وي هغه د خدای په منځ کې وي او د خدای يوه څړيکه هم د هغه په منځ کې وي. څکه چې خدای سراسر مينه ده.»

پرښتې دعا وکړه، وروسته بيا کوډله ځای پر ځای وښورېده. چت پرانيستل شو او له ځمکې تر آسمانه يوه برېښنيزه کرښه پورته شوه. سيمون، د هغه ښځه او ماشومان يې د سجدې په شان ټيټ شوي. د پرښتې په ملا وزرونه پيدا شول. وروسته بيا کله چې سيمون په هوښ راغی د هغوی کوډله خپل پخواني حالت ته راګرځېدلې وه او پرته له هغه او کورنۍ يې بل هېڅ چا شتون ندرلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې پوښتنې

په پخواوو زمانو کې يو پاچا و. هغه فکر کاوه چې که د هر څه د پيل تر ټولو سمه لار ومونډي، چا ته غوږ ونيسي او د چا له اوريدو څخه ډډه وکړي او کوم کار مخکې له ټولو وکړي؛ نو په هيڅ کار کې به ناکامه نشي.

خپل د پاچاهۍ گوټ گوټ ته يې قاصدان ولېږل. ويل يې چې که هر چا ما ته د هر کار سم مهال وښوده، تر ټولو اړين خلک يې ومونډل او تر ټولو مهم کار چې بايد وکړم وښوده، هغه ته به يوه ډېره لويه ډالۍ ورکړم.

يوه خلک د پاچا دربار ته ورغلل او د هغه پوښتنو ته يې بېلابېل ځوابونه وړاندې کړل.

لومړۍ پوښتنې ته د ځواب په توگه وويل شول چې د هرې چارې کره وخت حسابولو لپاره انسان بايد خپل ورځې، مياشتې او کلونه مخکې له مخکې پلان کړي او بيا همغه پلان سره سم ژوند وکړي. يوازې په دې ډول انسان کولای شي چې د هرې چارې لپاره کره وخت ومومي. نورو بيا دا وويل چې دا ناشونې ده چې د هرې چارې لپاره سم وخت حساب شي. خو انسان کولای شي چې خپل پخوانيو کړنو نه عبرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي؛ انسان باید هر وخت په دې پام وکړي چې څه ته اړتیا لري او څه لري.
په بلې خوا کې بیا نورو وویل چې انسان نه کولای شي چې د هرې چارې لپاره سم مهال ومومي. خو کېدای شي چې د پوهانو یوه لوړه جرگه جوړه شي څو هغوی ورته د هر څه لپاره سم وخت تنظیم کړي.

نورو بیا دا نیوکه وکړه چې کېدای شي داسې کوم څه هم وي چې په جرگه کې و نه ویل شي او انسان باید پرې یوازې پرېکړه وکړي څو هغه کار وکړي که ونکړي. خو د دې لپاره باید انسان مخکې له مخکې پوه شي چې څه به وشي. او یوازیني کسان چې په دې کولای شي وپوهیږي جادوگران دي. د دې لامله د هرې چارې سم وخت حسابولو لپاره باید جادوگرانو سره مشوره وشي.

دویمې پوښتنې ته هم بېلابېل په همدا شان ځوابونه ورکړل شول. ځینو ویل چې هغه څه چې پاچا ورته تر ټولو زیات اړتیا لري د جرگې غړي دي، ځینو نورو راهبان وښودل او نورو هم سرتیرو باندې ټینگار وکړ.

نو درېیمې پوښتنې ته تر ټولو سم ځواب څه و؟ ځینو ویل چې په نړۍ کې تر ټولو اړین شی پوهه ده. ځینو نورو بیا د جگړې مهارت ووایه، نورو هم دیني عبادت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ځوابونو له یو بل څخه توپیر درلود. نو ځکه پاچا هېڅ ځواب هم و نه مانه او هېڅ یو ته یې هم ډالۍ ورنکړه. خو پاچا غوښتل چې خپلو پوښتنو ته سم ځوابونو ومومندي.
په یو پوه سړي خبر شو چې په پوهه کې نامي و. هغه له ښار نه لېرې او یوازې اوسېده.

دا منزوي سړی ځنګله ته ورته له ونو ډک یو سیمه کې ژوند کوه. هېڅ کله له هغه ځایه څخه بهر نه وته او یوازې عادي خلکو سره یې اړیکې درلودې. له دې کبله پاچا عادي جامې په ځان کړې. بیا مخکې له دې چې د منزوي سړي کور ته ورسیږي خپل آس او ساتونکي یې شا ته ودرول او د هغه څنګ ته یوازې ولاړ.

پاچا د هغه کور ته ورسېد. هغه د خپل کور مخه کې ولاړ و او ځمکه یې کیندله. کله چې هغه پاچا ولید ورته یې سلام ووایه. بیا یې خپل کیندلو ته دوام ورکړ. منزوي سړی ډنګر او ضعیف و، کله چې بېل یې وهه ډېره لږه خاوره یې کیندلای شوه او ساه یې مدام سوزېدله.

پاچا د هغه څنګ ته ولاړ او ورته یې وویل: «راغلی یم چې تا ووینم اې ستره پوهه، ستا نه درې پوښتنې لرم: څنګه کولای شم چې کره کار په کره وخت کې وکړم؟ هغه کسانو ته چې تر ټولو ډېره اړتیا لرم څوک دي تر څو هغوی ته ډېر ارزښت ورکړم؟ کوم کارونه تر ټولو اړین دي تر څو زه ورته ډېر پام وکړم؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه سړي پاچا ته غوږ ونیو خو هېڅ ځواب یې ورنه کړ. خپل لاس باندې یې لاړې تو کړې او بېرته یې بېل په لاس کې واخیست، کیندلو ته یې دوام ورکړ.

پاچا وویل: «ته به ستړی شوی یې، بېل ما ته راکړه چې ستا په ځای زه کار وکړم.»

پوه وویل: «مننه!» بېل یې ورکړ او په ځمکه کښېناست.

پاچا د دوه کتونو په اندازه ځمکه وکیندله او ودرېد. خپل پوښتنې یې بیاځلې وپوښتې. پوه سړي بیا هم څه و نه ویل. لاس یې وړاندې کړ او بېل یې وغوښت.

«اوس ته دمه ونیسه... پرېږده چې اوس زه کار وکړم.»

خو پاچا هغه ته بېل ورنه کړ او کیندلو ته یې دوام ورکړ. یو ساعت تېر شو، یو ساعت بل هم تېر شو. لمر د ونو شا ته ورک شو. آخر پاچا بېل په ځمکه ونښلو او ویې ویل:

«اې پوه سړیه، ستا څنګ ته راغلی یم تر څو زما پوښتنو ته ځواب راکړې. که پوښتنو ته مې ځواب نلرې، دا ووایه تر څو زه ولاړ شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوه سړي وويل: « هغه کس په منډو زمونږ خوا ته راځي. وګورو چې دا به څوک وي.»

پاچا خپل شا واړوله او ويې ليد چې يو ږيرور سړی له ورايه دې خوا راروان دی. سړي خپلو لاسونو سره خپله ګېډه کلکه نيولې وه، له ګېډې يې وينې بهېدې. کله چې د دوی څنګ ته ورسېد آه يې وواېه او په ځمکه ولوېد او بې هوښه شو. پاچا او پوه د هغه جامې وباستې. د سړي په ګېډه کې لوی ټپ و. پاچا څومره چې کولای شول ټپ يې ومينځه او خپل او د پوه په دسمالونو يې وتړه. خو لا هم وينه و نه درېده او پاچا څو ځله په وينو ککړ دسمال ويست، په اوبو يې لوند کړ او بېرته يې وتړه. په پای کې وينه ودرېده او سړی په هوښ راغی. د څښلو لپاره يې يو څه وغوښتل. پاچا هغه ته تازه اوبه راوړې او ورته يې ورکړې. په دا حال کې لمر لوېدلی و او هوا لړه لړه سړه شوې وه. له همدې کبله پاچا او پوه سړي ټپي سړی کوډلې ته يووړ او په کټ يې څملوه. سړی همدا چې په کټ پرېوت سترګې پټې کړې او ويده شو؛ پاچا د دومره کار کولو او ګرځېدلو وروسته دومره ستړی شوی و چې هغه هم د دروازې خوله کې پروت او هلته ويده شو. منی و نو ځکه شپې لنډې وې. پاچا ټوله شپه ويده و. بيا کله چې سهار ويښ شو لومړی يې په ياد نه شو چې چېرته دی... ځان سره يې فکر وکړ چې «دا ږيرور سړی چې زما خوا ته خپل ټېقو سترګو سره ګوري او په کټ کې مې هم پروت دی نو څوک دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږیرور سړي په ټیټ غږ وویل: «ما وبخښئ!»، هغه لیدلی و چې پاچا وینښ دی او ورته ګوري.

پاچا وویل: «زه خو تاسو نه پېژنم، او داسې کوم څه مو هم ندي کړي چې زه مو وبخښم.»

«هو، تاسو ما نه پېژنئ، خو زه تاسو پېژنم. زه ستاسو دښمن یم او ما قسم خوړلای و چې ستاسو نه غچ واخلم. ځکه چې تاسو زما ورور په دار زړولی و او د هغه ځمکې مو هم غضب کړې وې. ما داسې اټکل کړی و چې تاسو به د پوه سړي څنګ ته یوازې راشئ. د دې لپاره ما هوډ کړی و چې کله چې تاسو بېرته ګرځئ، زه به مو وژنم. خو ورځ تېره شوه او تاسو بېرته و نه ګرځېدئ. په همدې توګه غوښتل مې چې تاسو ومومندم. بیا په لاره کې پټ شوم خو ساتونکو سره مو مخامخ شوم. هغوی پوه شول چې زه پټ شوی یم او زه یې ټپي کړم. له هغوی څخه وتښتېدم خو که تاسو ما سره مرسته  نه کوله، زه به د وینې زیان له کبله اوس مړ وم. ما غوښتل چې تاسو ووژنم خو تاسو زما ژوند وژغوره. اوس که مې ژوندی پرېږدئ او که غواړئ، غواړم چې ستاسو تر ټولو وفادار غلام شم. ټوله اولاده به مې هم ستاسو غلامان شي! ما وبخښئ!»

پاچا ډېر خوښ و چې خپل دښمن سره په دومره آسانه پخلا او ملګری شو. نه یوازې دا چې هغه یې وبخښه، بلکې هغه یې خپل ساتونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ماڼۍ ته ولېږه تر څو ځانګړی رنځورګر يې د هغه درملنه وکړي. دا ژمنه يې هم ورسره وکړه چې ځمکې يې ورته بېرته ورکوي.

پاچا ټېپي سړی ولېږه او هغه کيندل شوي ځای ته ببرته ولاړ. پوه سړی يې ولټوو. غوښتل يې چې مخکې له دې چې ولاړ شي د خپلو پوښتنو ځواب لپاره ورته زارۍ وکړي. پوه هلته و او په هغه پټي چې پرون يې کيندلی و تخمونه پاشل.

پاچا ورته نږدې شو او ويې ويل:

«درته د وروستي ځل لپاره زارۍ کوم، هيله کوم پوښتنو ته مې ځواب راکړه اې پوهه سړيه!»

پوه وويل: «ما خو ستا پوښتنو ته ځواب درکړ!» سر يې ټيټ و او لکه دې ښکارېده چې پاچا لپاره ټيټ شوی.

پاچا وپوښت: «څنګه دې ځواب راکړ ؟» «يعنې څه؟»

پوه بيا وويل: «نه ګورې؟ که پرون دې زما په کمزورتيا زړه نه و سوزېدای، زما لپاره دې دا پټي نه کيدلای او همداسې په خپل لار تللای وای، هغه سړي به خامخا په تا برید کاوه او تا به بيا خامخا دا آرمان کوه چې کاشکې له ما سره پاتې وای. تر ټولو اړين وخت هغه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تا دا پټې وکیندل. زه تر ټولو اړین کس وم. زما لپاره ښېګڼه کول هم ستا تر ټولو اړین کار و.

وروسته بیا کله چې سړی راغی، تر ټولو اړین وخت هغه و چې هغه دې وساته، ځکه چې که تا د هغه پرهرونه تړلي نه وای، هغه به مړ کېده او تا سره به نه پخلا کېده. له دې لامله هغه تر ټولو اړین کس و. څه چې تا هغه لپاره وکړل تر ټولو اړین کار و. دا مه هېروه چې یوازې یو وخت مهم دی: همدا اوس! ځکه چې دا تر ټولو اړین وخت دی او یوازینی وخت دی چې موږ پکښې ځواک لرو. تر ټولو اړین کس، هغه دی چې یې! ځکه چې هېڅوک نه پوهیږي چې له نورو خلکو سره یې اړیکې څنګه مخ ته ځي. تر ټولو اړین کار هم هغه (ځان) ته ښېګڼه کول دي، ځکه چې هغه کس یوازې په همدې موخه ستا ژوند ته لېږل شوی دی!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورات کې د قهوې دوکان

د هند په سورات ښار کې د قهوې یو دوکان و. هلته د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه سیلانیان یو ځای کېدل او خبرې اترې یې کولې.

یوه ورځ یو فارسي دیني عالم د دې پلورنځي لیدنه وکړه. هغه خپل ټول ژوند خپل د عقیدې په څېړلو وقف کړی و او په همدې اړه یې ګڼد شمېر کتابونه لوستي او لیکلي و. د خدای په اړه یې دومره فکر او لیک-لوستونه کړي و چې ماغزه یې ګډوډ شوي و او نور یې د خدای په شتون عقیده نه درلوده. کله چې شاه پرې خبر شوی و، له فارسه یې شړلای و.

د ژوند په اوږدو کې یې د خلقت لامل څېړلی و. خو نور یې دومره فکر او ماغزه مغشوش شوي و چې آن خپل منطق یې له لاسه ورکړی و او نور یې په دې چې یو لوړ ځواک دا کاینات اداره کوي عقیده نه درلوده.
دا سړي یو افریقایي غلام درلود چې هر چېرې به ورسره و. دواړه د قهوې دوکان ته ورسېدل. سړی دننه شو او غلام بهر د دروازې په څنډه کې پاتې شو. په یوه کاڼي کښېناست، د لمر تاوده یې هم پر سر لګېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا کې يې مچان الوتل او هغه هڅه کوله چې هغوی په خپل لاس وشړي. فارسي عالم په دوکان کې په يوې څوکۍ کښېناست او ځان لپاره يې يو پياله آفيون وغوښت. کله چې آفيون يې وڅښل ماغزه يې لا نور هم ګرنديي شول. بيا له دروازې څخه يې خپل غلام ته غږ وکړ، دروازه پرانيستې وه:

ويې ويل: «اې رزيله غلامه ما ته ووايه! ستا په اند خدای شته که نه شته؟»

غلام وويل: «خامخا چې شته،» او ژر يې د خپل کميس لاندې نه يو د لرګيو بت وباست.

هغه وويل: «دا دی! دا هغه خدای دی چې ما، له زېږدې تر اوسه ساتي. زما د هېواد ټول خلک په هغې ونې چې دا بت ورنه جوړ شوی کلکه عقيده لري.»

د عالم او د هغه د غلام دا خبرې په دوکان کې د شته نورو خلکو له خوا په حيرانتيا واورېدل شوې. هغوی د بادار په پوښتنې خورا حيران شول. خو د هغه د غلام په ځواب لا نور هم هک پک شول.

د دوی په منځ کې يو پنډت و چې د غلام خبرې يې واورېدې او هغه خوا ته يې مخ کړ. ورته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اې بدبخته احمقه! آیا شونې ده چې خدای د یو انسان د کمیس لاندې وي؟ یوازې یو خدای شتون لري! هغه براهما دی او ټوله نړۍ هم هغه خلق کړې. براهما ځواکمن خدای دی او د هغه رښتیني خادمان چې پنډتان دي، د ګنج سیند په څنډه کې د هغه لپاره عبادتځایونه جوړ کړي. یوازې هغوی دي چې رښتینی خدای لیدلای شي. زرګونه کاله کیږي چې هر ډول نوښتونه منځ ته راغلل خو دې راهبانو خپله عقیده خوندي وساتله. ځکه چې رښتینی خدای براهما هغوی پالي او ساتي.»

پنډت په دې شان وغږېد او غوښتل یې چې ټول قانع کړي. خو یو یهود صراف هغه ته دا ډول ځواب ورکړ:

«نه! د رښتیني خدای عبادتځای په هند کې ندی. پنډتان هم خدای نه پالي. رښتینی خدای د پنډتانو خدای نه بلکې د ابراهیم، اسحاق او یعقوب خدای دی. هغه پرته له بني اسرائیله -چې ټاکل شوي دي- بل هېڅوک نه ژغوري. د نړۍ له پیله څخه تر ننه زموږ ولس د هغه تر ټولو ګران اولادونه دي. که څه هم موږ په نړۍ کې تیت یو خو دا د خدای آزموینه ده؛ خدای ژمنه کړې چې یوه ورځ به خپل ټول اولادونه په یروشیلم (بیت المقدس) کې یو ځای کوي. وروسته بیا د *سلیمان عبادتځای* چې د لرغونې نړۍ تر ټولو لوی پرتمین ځای و، خپل پخوانی برم به بېرته تر لاسه کړي. بیا به اسرائیل په ټولو ولسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې پاچاهي وکړي.»

يهود داسې وغرېد او په ژړا شو. غوښتل يې چې نور څه هم ووايي. خو يو ایټالیايي میسیونر د هغه خبره پرې کړه.

هغه يهود ته وويل: «څه چې ته وايې سم ندي. ته د خدای په اړه حق نه وايې! ستاسو ولس د نورو ولسونو په پرتله لا ډېر په خدای ګران ندی. کېدای شي چې دا د پخوا وختونو لپاره سمه وینا وي. خو خدای نهه سوه کاله مخکې بني اسرائيل، له دې کبله چې هغوی له خدای د امر نه سرغړونه وکړه ورک کړل او په ځمکه يې وويشل. ځکه چې تاسو نه پرېږدئ چې بل څوک ستاسو په عقيدې ننوځي. تاسو خدای په غوسه کړ. خدای هېڅ ولس له بل ولسه نه غوره کوي. خو هر څوک چې غواړي هوسامن شي د روم کاتوليک کليسا ته يې بلي تر څو وژغورل شي.»

د ایټالیوي سړي ویناوې هم په دې توګه پای ته ورسېدې. يو پروټستان راهب هم هلته و. د دې خبرو د پاسه سور او سپین شو. کاتوليک میسیونر خوا ته واوړېد او دا يې ووايل:

«ته په کوم اساس وايې چې ژغورنه ستاسو په مذهب کې ده؟ يوازې هغه څوک ژغورل کيږي چې له خدايه د انجيل امرونو سره سم اطاعت کوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یو ترک چې د سورات په گمرک کې یې کار کاوه او هلته یې چلم څښل، عیسویانو ته یې په ټېټه سترگه ولید او مخ یې هغوی خوا ته واړو.

هغه وویل: «دا عقیدې مو بې ارزښته دي، له ننه دولس سوه کاله وړاندې رښتینې عقیدې د هغه ځای ونیو: هغه د محمد عقیده ده! په دې سترگې نشئ پېتولای چې د محمد رښتیتې عقیده هم په اروپا کې هم په آسیا کې او آن په چین کې لا اوس هم خپرېږي. تاسو خپله وایئ چې خدای یهودان رد کړل او دا هم وایئ چې د دې په پایله کې یهودان خواره شول او د هغوی عقیده نور نه خپرېږي. نو دا ومنئ چې د محمد عقیده رښتینې عقیده ده ځکه چې دا عقیده ورځ تر بلې بریاوې تر لاسه کوي او ډېر په پراخه ځای کې خپرېږي. پرته د خدای وروستي پیغمبر محمد پیروان به هېڅوک و نه ژغورل شي. له هغوی څخه به هم د عمر پیروان وژغورل شي، ځکه چې د علي پیروان په غلطه لار روان دي.»

د علي د مذهب عالم غوښتل چې ورته ځواب ورکړي؛ خو د بېلابېلو عقیدو خاونانو په منځ کې لویه شخړه منځ ته راغله. حبشي عیسویان، تیبتي بودایان، اسماعیلیان او مجوسیان پکښې و. ټول د خدای او عبادتځایونو په هکله غږېدل. هر یو خپل هېواد د منلو وړ او د عبادت تر ټولو سم ځای باله.

پرته له یو چینایي سړي چې هلته په یوه گوښه کې غلی ناست و، نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو چیغې او بغارې وهلې او هر یو خپل د عقیدې څخه دفاع کوله . دا چینایی د کانفسیوس فلسفې یو زده کوونکی وه. ناست و او چای یې څښه، د نورو ویناوې یې اورېدې خو خپله نه غږېد.

د ترک هغه ته پام شو چې غلی ناست و. ورته یې وویل:

«اې زما چینایي ملګریه، کولای شې چې زما ویناوې تصدیق کړې. غلی ناست یې خو ډاډه یم چې که وغږېږې زما له ویناوو به ملاتړ وکړې. ما له سواداګرو اورېدلي چې ستاسو هېواد ته ګڼ شمېر دینونه تللي خو د چین خلکو د نورو دینونو په پرتله د محمد عقیده په ښه سترګه ویني او خپل په خوښه یې مني. زما ویناوې تصدیق کړه او د لوی خدای او د هغه رسول محمد په هکله خپل اندونه موږ سره شریک کړه.»

نورو هم چینایي ته مخ واړو او ویل یې: «هو، ووایه تر څو د موضوع په اړه ستاسو اندونه هم واورو.»

چینایي سړي خپل سترګې پټې کړې او یو موده یې فکر وکړ. وروسته یې ببرته پرانیستې او خپل لاسونه یې خپل په لستونو کې ننه اېستل کړل او په سینه باندې یې دواړه یو ځای کړل. همدا شان یې په خورا آرامه غږ خبرې پیل کړې:
«ښاغلیو، ما ته داسې برېښي چې هغه څه چې د انسانانو منځ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقيدې په اړه د توافق په لاره کې خنډ دی، کبر دی. که غواړئ چې ما واورئ غواړم چې د بېلګې په توګه تاسو ته يوه کيسه ووايم.

زه له چينه دلته په يو انګرېزي کښتۍ کې راغلم. دا کښتۍ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ګرځېده. کله چې موږ سفر کوه د مزل پر مهال د ساماترا ټاپو پر لويديز پلو ودرېدو څو خوړې اوبه ومومو. مازديګر و او يو څو تنه مو د ناريال د ونو سيوري لاندې کښېناستو. د ځايي کلي څخه هم ليرې نه وو. موږ له بېلابېلو ولسونو څخه جوړه ډله وو.

کله چې موږ هلته ناست وو څنګ ته مو يو ړوند سړی راغی. وروسته بيا پوه شوو چې د هغه د ړوندېدو لامل ډېره موده لمر ته کتل و. غوښتل يې پوه شي چې لمر څه دی. د دې لپاره يې مدام د لمر رڼا تعقيبوله. د دې يوازينۍ پايله دا وه چې هغه يې ړوند کړ.

ځان سره يې داسې ويل:

«د لمر رڼا مايع نده؛ که هغه مايع وای له يوې لوښې نه به بلې لوښې ته اچول کېده او هغه به لکه اوبو له يوه ځايه بل ځای ته انتقالېده. اور هم ندی، که داسې وای اوبو سره به ګلېدای. دا رڼا خو روح هم نه شي کېدای، ځکه چې په سترګه ليدل کيږي. ماده پدې نده چې د خوځېدلو او په لاس نيولو نده. د لمر رڼا مايع نده، اور نده، روح نده او ماده نده... هېڅ څه نده!»

هغه په دې توګه فکر کاوه او د دې په پايله کې يې خپل ليد له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړی و. کله چې ړوند شو په دې قانع شو چې لمر هېڅ شتون نلري.

ړوند سړي سره يو غلام هم و. هغه خپل بادار د ناريال ونې لاندې سيوري ته کښېناوه بيا يې له ځمکې څخه يو ناريال واخيست او له هغه يې يو څراغ جوړ کړ. د ناريال له پوټکي نه يې يو لرګی مات کړ، بيا يې د ناريال غوړ هم په پوټکي کې واړول او لرګی يې په هغه کې ومنډه.

غلام دا په ناستې کول، ړوند سړي ژوره ساه واېسته او هغه ته يې دا وويل:
«اې غلامه، زه چې درته وايم چې لمر نشته پر حقه نه يم؟ نه ګورې چې هره خوا څومره تياره ده؟ تاسو وايئ چې لمر شتون لري... خو که داسې وي نو هغه څه دی؟»

غلام وويل: «په دې نپوهېږم چې لمر څه دی او دا زما کار هم ندی. خو زه په دې پوهېږم چې رڼا څه ده. ما څراغ جوړ کړ او د دې په مرستې به زه د شپې تا ته خدمت وکړم او په تياره کې به هر هغه څه چې غواړم موندلای شم.»

غلام د ناريال پوټکی پورته ونيو او داسې يې وويل:

«همدا زما لمر دی!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ګوډ سړی هم په هغه شاوخوا کې و او عصا یې په لاس کې وه. هغه هم د غلام خبرې واورېدې او ویې خاندل.

ړوند سړي ته یې وویل: «کاشکې له بنیاده ړوند وای، هغه مهال به نپوهېدې چې لمر څه دی، زه به درته ووایم چې هغه څه دی. لمر له اوره جوړ توپ دی چې هر سهار له سمندره خیږي او هر ماښام د ټاپو د غرونو شا ته بېرته لویږي. ټولو دا لیدلی او آن که ستا سترګې هم ړندې دي خامخا پرې پوهېږې.»

یو کب نیوونکي دا خبرې واورېدې، ویې ویل:

« څومره ښکاره ده چې هېڅکله له خپل ټاپو نه بهر نه یې وتلای. که ګوډ نه وای او ما غوندې له کښتۍ سره ګرځېدلای شوای ته به خامخا پوهېدې چې لمر زموږ د غرونو شا کې نه لویږي، هر سهار په سمندر کې خیږي او هره شپه په سمندر کې لویږي. څه چې زه درته وایم سم دي، ځکه چې زه هره ورځ دا په خپلو سترګو وینم.»

بیا زموږ له ډلې یو هندي د هغه خبره پرې کړه:
«زه خو هک پک پاتې یم چې منطقي خلک څنګه داسې غږېدای شي. څنګه کېدای شي چې له اوره جوړ یو توپ په اوبو کې ډوب شي خو مړ نشي؟ لمر له اوره جوړ توپ ندی؛ لمر یو خدای دی! نوم یې دېوا دی او د سرو زرو نه جوړ د *مانو* غره په خوا کې د یو ګاډۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ کې تل تاويږي. کله هم نجس ماران لکه راګو او کاتو په دېوا يرغل کوي او هغه خوري او له دې لامله نړۍ تياره کيږي. خو بيا زموږ راهبان د خدای خوشې کېدو لپاره دعاګانې کوي او بيا خوشې کيږي. جاهلان چې آن له خپل ټاپو څخه بهر ندي وتلي فکر کوي چې لمر يوازې د هغوی په هېواد باندې تاويږي.»

وروسته بيا د بېړۍ خاوند يو مصری وغږېد:

«نه... تاسو غلط وايئ. لمر کوم خدای ندی او يوازې په هند او د *سرو زرو غره* باندې هم نه تاويږي. زه ډېر ځلې تور سمندر او عرب سمندر ته سره تللی يم. د دې تر څنګ ماډاګاسکار او فليپين ته هم تللی يم. لمر ټوله نړۍ روښانوي، نه يوازې هندوستان. لمر د کوم غره په خوا کې نه تاويږي. خو په ختيځ کې له جاپانه خيږي او تر لويديزه انګرېزي ټاپو ګانو پورې ځي او هلته لويږي. د همدې لپاره جاپانيان خپل هېواد ته *نيپون* وايي. د دې معنا د *لمر د ختلو ځای* دی. په دې ځکه پوهېږم چې هم مې خپله ليدلي او هم مې له خپل نيکه نه چې د سمندر تر پايه پورې تللی و اورېدلي دي.»

غوښتل يې چې ادامه ورکړي خو د بېړيو خاوند يو انګرېز وغږېد .

ويې ويل: «هېڅ بل هېواد لکه انګلستان نشي کولای چې د لمر حرکت تعقيب کړي. ټول انګرېزان په دې پوهيږي. لمر له هېڅ ځايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خیږي او په هېڅ ځای کې نه لوېږي. لمر مدام د ځمکې په خوا کې تاویږي. له دې نه ډاډه اوسئ، ځکه چې موږ انګرېزان ټولې نړۍ ته تللي یو خو هېڅ داسې ځای نه و چې لمر وسره ټکر وکړي یا ویې نیسي. هر چېرې چې ولاړو لمر ورځ ځان ښوده او د شپې یې ځان پټوه. څرنګه چې دلته دی.»

بیا انګرېز یو لرګی واخیست او په رېګو باندې یې دایرې وکاږلې، هڅه یې وکړه چې د په آسمان کې د لمر حرکت تشرېح کړي. خو هغه و نه کولای شو چې سم تشرېح وکړي. د ببړۍ کپتان ته واوړېد او داسې یې وویل:

«دا سړی په دې اړه زما نه ډېر پوهیږي. هغه به دا موضوع لا نوره په سمه توګه تشرېح کړي.»

کپتان هوښیار سړی و او د ټولو ویناوې یې له پیله اورېدلې وې او اوس خپله غږېده. ټولو هغه ته وکتل، هغه وویل:

«ټول مو یو بل غولوئ. لمر د ځمکې په خوا کې نه تاویږي، بلکې برعکس ځمکه د لمر په خوا کې تاویږي. هر تاوېدل په څلور ویشت ساعتو کې پای ته رسیږي. لمر نه یوازې جاپان، فلیپین او ساماترا؛ بلکې افریقا، اروپا، امریکا او ټوله نړۍ روښانوي. لمر یوازې یو غر، یو ټاپو، یو سمندر او یا یوازې ځمکه نه روښانوي؛ بلکې پرته له ځمکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې سيارې هم روښانوي. که تاسو د خپل د پښو لاندې خاورو ته نه؛ بلکې آسمان ته وګورئ، دا ليدلای شئ. هغه مهال پوهېږئ چې لمر ستاسو يا ستاسو ولس لپاره نه ځلېږي.»

د لوړې پوهې خاوند کپتان داسې ويلي و او وروسته يې سر آسمان ته اړولی او کتلي و.

د عقيدې خبره هم په همدا شان ده. څه چې د انسانانو په منځ کې لانجه او شخړه منځ ته راوړي کبر دی. خبره په لمر او خدای کې يو شان ده.
هر څوک غواړي چې ورته ځانګړی خدای وي. يا لږ تر لږه هېواد لپاره يې يو ځانګړی خدای وي. هر ولس غواړي چې هغه ته خپل په عبادتځي کې ځای ورکړي، خو خدای دومره لوی دی چې په هېڅ ځای کې نه ځايېږي او هېڅ څه نه شي کولای چې هغه ته ځای ورکړي!
آيا معمولي عبادتځايونه کېدای شي د کايناتو عبادتځای سره پرتله شي؟ کوم چې خدای د ټولو انسانانو يوې عقيدې او يو دين په خوا کې راټولولو لپاره جوړ کړی؟

ټول انساني عبادتځي د هغه د مخې جوړ شوي، خو هغه خدای جوړ کړی. هر عبادتځای ځانګړي زينتونه، ښکلی چتونه، ځانګړي څراغونه، رسمونه، لويې مجسمې، ليکونه او خطونه، قوانين، قربانيانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او راهبان لري. خو په کوم عبادتځای کې لکه اقيانوس زينت شته؟ کوم يو کې لکه آسمان چت شته؟ په کوم کې لکه لمر، سپوږمۍ او ستورو څراغونه شته؟ کوم رسامي له مينې او ژوندون څخه ډک، يوبل ته مرستندويو انسانانو سره پرتله کېدای شي؟ چېرې دي هغه اصول چې خدای د بني آدم ښېګڼې لپاره ليکلي؟ چېرې دی داسې کتاب لکه د بني آدم زړه له اخلاصه ډک؟ کومه قرباني هغه سره مساوي ده چې ښې ښځې او سړي د يوبل لپاره يې کوي؟ کومه قربانۍ خدای ته د انسان زړه سپارلو سره پرتله کېږي؟

څومره چې انسان په خدای فکر وکړي هومره خدای ښه پېژني. څومره چې انسان خدای وپېژني هومره به د هغه ښه والی، زړه سوی او مينه وګوري او تقليد کړي. او په دې توګه به هغه ته نور هم نږدې شي. له دې کبله څوک چې پوه وي چې د لمر رڼا ټوله نړۍ روښانوي بايد هغه څوک ملامت و نه ګڼي چې په باطلو عقيدو تړلی وي. آن کافر ته هم بايد په ټيټه سترګه و نه ليدل شي چې هېڅ کله لمر نه شي ليدای.»

چينايي سړی چې د کانفسيوس فلسفې زده کوونکی و په دا شان وغږېد؛ په دوکان کې ناست ټول خلک غلي شول او نور يې په دې بحث نه کوه چې د چا عقيده سمه ده او د چا ناسمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سړي ته څومره ځمکه پکار ده؟

## ۱

يوه ښځه د خپل د خور ليدنې ته تللې وه. دې په ښار کې ژوند کاوه او خور يې په کلي کې. د کليوالې يوې په پرتله دا لويه وه. مشره خور يو سوداګر سره واده وه، کوچنۍ بيا يو بزګر سره. دواړه خور ګانې ناستې وې، چايونه يې څښل او خبرې يې کولې. مشره يوه د ښار ژوند د آسانتياوو څخه وغږېده. دا يې وويل چې هلته څومره خلک دي او هغوی ښکلي جامې اغوندي، د هغه ځي ماشومان هم ښايسته جامې اغوندي او د خوړو له څرنګوالي نه يې ورته وويل. ويل يې چې خلک ډېرى وخت تياترونو، ننداړتونونو او سيلونو ته ځي.
کوچنۍ خور په غوسه شوه. د خپل خور ښاري ژوند يې خوښ نه و او خپل له کليوال ژونده يې دفاع وکړه.

ويې ويل: «زه هېڅ نه غواړم چې خپل ژوند ستا ژوند سره بدل کړم. کېدای شي چې موږ سخت ژوند ولرو خو لږ تر لږه له ستونزو او اندېښنو نه لېرې يو. هو، تاسو زموږ په پرتله په پورته سويه ژوند کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زموږ نه ډېرې پیسې هم ګټئ. خو دا مه هېروه چې کېدای شي په ډېر آسانتیا مو هر څه له لاسه ولاړ شي. دا متل به دې اورېدلی وي چې وايي: «ګټه او زیان خور او ورور دي.»
ډېری خلک وروسته له دې چې یو څه موده شتمن شي بیا دومره بېوزله کیږي چې آن خپل د خوړلو ډوډۍ هم نشي موندلای. خو زموږ لاره داسې نده او ډېره خوندي لار ده. ښايي د یو کلیوال ژوند ډېر له شتمندیو ډک نه وي خو بیا هم اوږد ژوند کوي. کېدای شي موږ هېڅکله شتمن نه شو خو هر وخت به یو څه ولرو چې خپله ګېډه پرې مړه کړو.»

مشرې خور په ملنډو ورته وویل:«هو خامخا. که له خنزیرونو او پسونو سره په ګډه ډوډۍ خوړل مو خوښ وي، دا سم انتخاب دی! ته په کوم عصریتوب خبره یې؟ مېړه دې کمبخت له سهاره تر ماسخوتنه لکه مېږي کار کوي. نو که دا ژوند مو غوره وي، همداسې دوام ورکړئ او د ژوند تر پایه د همدو واښو او تپیو په منځ کې ژوند وکړئ!»

کوچنۍ خور ځواب ورکړ: «خیر دی! په دې کې هېڅ کومه بدي نشته! څاروي مو کار سختوي خو له بلې خوا نه بیا ډاډه او خوندي ژوند لرو. هېڅ چا ته مو سر ټیټ ندی. خو تاسو ښاریان په ښارونو کې په زر ډوله ګناه ګانو اخته یاست؛ ښايي نن هر څه په لاره وي خو سبا ورځ امکان لري چې شیطان دې په مېړه باندې واکمن شي او مېړه دې په قمار، شراب او زنا اخته شي. په ښار کې داسې ډېر جنجالونه شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري!»

د مېږه نوم يې پاخوم و. همغه شېبه د تنور په څنګ کې تود پروت و او د دوی خبرې يې اورېدې.

ځان سره يې داسې فکرونه کول: «هو، بلکل همداسې ده. موږ کليوالان له وړکتوبه څخه دومره ډېر ځمکو او کرلو رېبلو سره بوخت يو چې داسې کارونو ته فکر کولو لپاره مو هېڅ وخت نه پاتې کيږي. زموږ يوازينۍ ستونزه دا ده چې کافي ځمکه نلرو. که مې کافي ځمکه درلوده آن د شيطان نه به هم نه ډارېدم.»

ښځو خپل چايونه وڅښل، بيا د کميسنو په هکله يو څه وغږېد او پيالې يې ومينځلې. بيا بيدې شوې.

خو شيطان د تنور شاته پټ و او څه چې وويل شول يې واورېدل. شيطان ډېر خوشحاله پر دې شو چې ويې کولای شو په کليوالې ښځې باندې يې مېږه وستايي، بيا د پاخوم په فکرونو هم ډېر خوشحاله شو.»

شيطان ځان سره وويل: «ډېر ښه، څومره ځمکه چې ته غواړې درته درکړل کيږي خو د دې په بدل کې دې زه خپل په واک کې نيسم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

د دې کوچني کلي په نیږدو کې یوې ښځې ژوند کاوه چې د درې سوه جریبو ځمکو خاونده وه. پخوا به هغې نورو کلیوالو سره ډېر ښه چلند کاوه خو له هغې مودې راهیسې چې هغې یو ناظر نیولی و، ناظر یې مدام په خلکو پورونه باندې اړول. پاخوم سره له دې چې ډېر پام درلود خو بیا هم تل به یې آسونه ، غواګانې او پسونه د ښځې پټیو ته دننه کېدل او د هغه بوټې یې خرابولې او واخه یې ورته خوړل. همدې لپاره ناظر هغه تل جریمه کاوه.

یو ځل پاخوم جریمې ورکړې، خوا بدی شو او کور ته غوسه ولاړ. خپلې کورنۍ سره یې هم بد چلند وکړ. د منې په اوږدو کې ناظر سره ډېر په جنجال اخته و. نو کله چې ژمی راغی ډېر خوشحاله و چې څاوري یې په تبېله کې بندیږي. څاروي بهر وتلای نه شول او جنجالونه کم شول.

ژمي کې په ټول کلي کې دا آوازې غوږ په غوږ کېدې چې زړه ښځه خپل ځمکې خرڅوي او د هغه په ګاونډ کې د سرای خاوند غوښتل چې دا ځمکې واخلي. کله چې کلیوالو دا واورېدل وارخطا شول.

هغوی داسې ویل: «که سرایوان دا ځمکې واخلي موږ ته به د ناظر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډېر جنجال جوړ کړي. موږ ټول د ځمکو په حاصل تړلي يو.»

په دې توګه کليوالان د خپلو ځمکو په استازيتوب زړې ښځې څخه ولاړل او هغې ته يې وويل چې خپلې ځمکې سرايوان ته خرڅې نه کړي. دوی ورته لا ډېرې پيسې وړانديز کړې نو ځکه زړې ښځې خپلې ځمکې دوی ته خرڅې کړې. وروسته کليوالو غوښتل چې د هغې ټولې ځمکې واخلي. په دې توګه به هغوی کولای شول چې ټولو غړو ته په يوه اندازه ځمکې ووېشي. کليوال دوه ځله ټول شول څو په دې هکله پرېکړه وکړي خو هغوی کولای و نه شو چې خبره حل کړي. د هغوی په منځ کې يې شيطان لانجه اچوله، له دې کبله يې توافق و نه کړ او هر يو په يوازيتوب ځمکې واخيستې. دا په دې معنا چې زړه ښځه اړه وه څو هر يو سره جلا جلا موافقه وکړي. خو هغې دا هم ومانه.

بيا پاخوم واورېد چې يو ګاونډی يې د زړې ښځې نه پنځوس جريبه ځمکې اخلي او هغې هم ورسره منلي و چې نيمې پيسې اوس او نيمې يې د يو کال په ترڅ کې ورکړي. پاخوم هغه سره بخيلي وکړه. ځان سره يې داسې فکر کاوه:«ته لا دا کار وګوره! ټول په ځمکو کې خپلې برخې اخلي او زه هېڅ هم نشم اخيستلای.» وروسته بيا خپل مېرمن سره وغږېد.

پاخوم ورته وويل: «نور خلک ځمکې اخلي، موږ هم بايد لږ تر لږه شل جريبه ځمکه په بيه واخلو. دا ناظر په موږ باندې ژوند تريخ کړی، تل په موږ باندې پورونه اړوي او تباه کوي مو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې چرتونه يې وهل چې څنګه ځمکې واخلي. سل ربله نغدي پانګه يې وه، يو آس او نيمې مچۍ يې خپل خرڅې کړې؛ خپل زوی يې بهر ته ولېږد تر څو کار وکړي او مخکې له مخکې يې د هغه معاش واخيست، نورې پيسې يې له خپل اوښي نه پور واخيستل. همداسې يې د ځمکو اخيستو نيمې پيسې وموندې.

پاخوم د څلوېښتو جريبو مزرعه غوره کړه. د دې کرنيزې مزرعې يوه برخه ځنګل هم و. پاخوم ولاړ تر څو زړې ښځې سره بيه وټاکي او ورسره چنې ووهي. ښځې سره يې توافق وکړ او دواړو قول ورکړ. پاخوم وار له مخه يو څه پيسې ورکړې. بيا په ګډه ښار ته ولاړل او قواله يې لاسليک کړه. توافق شو چې نيمې پيسې اوس او نيمې يې د دوه کالو په اوږدو کې ورکړي.

نور نو پاخوم خپله د ځمکو خاوند و. په پور يې تخم واخيست او په ځمکو يې وپاشه. حاصل خورا ښه و او د يو کال په اوږدو کې يې هم د زړې ښځې او هم د خپل اوښي ټول پورونه بېرته ورکړل. په دې توګه نور د ځمکو خاوند و او خپل په ځمکه يې کرل او رېبل او خپله ګله يې خپل په اورشوګانو کې څرول. کله چې خپل پټي يې ليدل زړه پرې يې خوشحالېده. هغو ګُلونه او چمنونه ورته له نورو توپير درلود چې په خپلو ځمکو کې يې وده کړې وه. پخوا کله چې له دې ځايه تېرېده، ټول ورته په يو شان ښکارېدل خو اوس کله چې خپله ځمکه يې ليده ډېر توپير يې کته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

پاخوم ډېر خوشحاله و. خو یوازې د دې نه اندېښمن و چې ګاونډیان یې د جوارو پټیو او اورشو ګانو ته ننوتل. هغه هڅه وکړه چې هغوی په سمه ژبه منع کړي. خو هغوی و نه درېدل او دې ته یې دوام ورکړ. آن نورو بزګرانو هم خپل آسونه او غواګانې د هغه پر ځمکو باندې خوشې کول. پاخوم هر ځل هغوی بېرته اېستل او د هغوی خاوندان یې هم بخښل. هغه ډېره موده داسې وکړل او هېڅ چا سره یې لانجه و نه کړه. خو آخر یې حوصله پای ته ورسېده او په ځایي محکمه کې یې له هغوی څخه شکایت وکړ. پاخوم پوهېده چې هغوی کوم بد نیت نلري او د هغوی دا کار له دې لامله دی چې هغوی هم هیله درلوده څو د ځمکو خاوندان شي. خو ځان سره یې ویل:

«نه شم کولای چې په دې کارونو باندې سترګې پټې کړم. که نه څه چې لرم ټول به ویجاړ شي. هغوی یو درس ته اړتیا لري.»

په همدې توګه یې شکایت وکړ او هغوی ته یې درس ورښود؛ دوه-درې بزګره جریمه شول. د پاخوم ګاونډیان بیا یو څه موده وروسته د هغه په مقابل کې کینه ونیوله او نور نو هغوی په زوره خپلې ګلې د پاخوم ځمکو ته ننه اېستې. آن یو سړی په نیمه شپه کې د پاخوم پټیو ته ننوت او د سنځلو پنځه کوچنۍ ونې یې ورماتې کړې. کله چې سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاخوم له هغه ځایه تېرېده یو تک سپین توکي ته یې پام شو. کله چې هغه نږدې شو ویې لید چې ونې نړېدلي دي او د ونو ریښې هم په ځمکې لوېدلي دي. ډېر په غوسه شو.

ځان سره یې ویل: «که یوه ونه یې نړوله څه نه و خو دا لنډغر یو بلا ونې نړولي دي. که هر چا چې دا کار کړی وي وومومم، هغه نه پرېږدم!»

ځان سره یې فکرونه کول چې دا به د چا کار وي. بیا یې فکر وکړ: «دا کار هرو مرو د سیمون دی... نور هېڅوک داسې یو کار نکوي.»
له دې کبله ولاړ تر څو د سیمون کور وڅېړي، خو هېڅ څه یې پیدا نه کړل او یوازې یې خپله غوسه ډېره کړه. خو لا هم یې ډاډ درلود چې دا هر څه سیمون کړي. همدې لپاره یې له هغه څخه په محکمه کې شکایت وکړ. سیمون راوغوښتل شو، دوه ځلې قاضي څخه ولاړل او په پایله کې خوشې شو. ځکه چې پاخوم هېڅ ثبوت ندرلود. پاخوم لا نور هم په غوسه و، خپل غوسه یې د کلي مشرانو او سپینږیورو ته وښوده.

هغه وویل: «تاسو له غلو څخه مدام رشوت اخلئ. که تاسو سپېڅلي خلک وای نه به مو پرېښوده چې غله وتښتي.»

پاخوم په همدې ډول له مشرانو او ګاوډیانو سره جګړه وکړه.

پاخوم ته د هغه د کور سوځولو ګواښونه وشول. که څه هم هغه ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې درلودې خو د پخوا په پرتله یې د خلکو په مخ کې درناوی ډېر لږ شوی و. په همدا حال کې په کلي کې آوازې وې چې ډېر کلیوال به له دې ځایه کډه وکړي.

پاخوم ځان سره ویل: «ضرور ندی چې زه خپلو ځمکو څخه بېل شم. نور کلیوال به مو د کلي نه ولاړ شي او موږ به د لا ډېر ځای خاوندان شو. د هغوی ځمکې هم زه اخلم او خپل مزرعه مې نور هم لویوم. په دا ډول به ډېر راحته ژوند وکړم. اوس مهال خو هسې هم ډېر ښه ژوند نلرم.»

یوه ورځ پاخوم په کور کې و او یو بزگر چې د یو بل کلي نه د دوی کلي ته راغلی و، د هغه مېلمه شو. هغه په کلي کې شپه تېره کړه او خواړه یې هم وخوړل. پاخوم هغه سره وغږېد او ورنه یې وپوښتل چې له کوم ځایه راغلی. پردي سړي ورته وویل چې ولگا ته نږدې یو کلي څخه راغلی او هلته دنده تر سره کوي. خبرې تودې شوې او همدا شان پردي وویل چې ځښت زیات کسان په ولگا کې ځای پر ځای شوي. د هغه له کلي نه هم ډېر خلک هلته کډه کړې. یوه ډله یې جوړه کړې او هر یو ته پنځه ویشت جریبه ځمکه رسېدلې. ویل یې چې ډېره برکتي ځمکه ده او هر وړی د آس په اندازه دی. او دا یې هم وویل چې یو بل کلیوال ځان سره هېڅ هم نه و وړي خو اوس د شپږو آسونو او دوه غویو خاوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاخوم چې دا واورېدل زړه یې له خوښیه ډک شو. دا فکر یې وکړ: «زه خو څه مجبور نه یم چې په دا لېرې ځای کې ژوند وکړم . حال دا چې کولای شم په بل ځای کې لا ډېر ښه ژوند ولرم. په دې ځای کې مې ځمکې او کور خرڅوم او په هغه پیسو باندې هلته ژوند پیلوم او هر څه نوي کوم. په دا ګڼه ګوڼه ځای کې مدام سړی په جنجال وي. خو لومړی باید هلته ولاړ شم او وګورم چې څنګه چل دی.»

اوړي کې تیار شو. کښتۍ کې له ولګا څخه تېر شو او شامارا ته ورسېد، وروسته بیا کابو درې سوه میله پیاده ولاړ او خپل مقصد ته ورسېد. د سړي ویناوې رښتیا وې. کلیوالو پراخې ځمکې درلودې. هر یو یوازې د ځان لپاره پنځه ویشت جریبه ځکمه درلوده. که چا نورې پیسې درلودلې کولای یې شو چې په ډېره ټیټه بیه نورې ځمکې هم په بیه واخلي.

پاخوم په هر څه ځان پوه کړ او په مني کې بېرته کور ته ولاړه. خپل توکي یې خرڅ کړل. ځمکې یې په ګټه خرڅې کړې. کور او ټول څاروي یې هم خرڅ کړل. د ډلې له غړیتوب څخه ووته. تر پسرلي پورې منتظر شو بیا ټولې کورنۍ خپل نوي ټاټوبي ته کډه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

پاخوم او د هغه کورنۍ خپل نوي کور ته ورسېدل. هغوی په ډله کې د غرېتوب لاسته راوړلو لپاره وړاندیز وکړ. د مشرانو مخ ته ودرېد او د اړتیا وړ اسناد یې وښودل. د مشترکې ځمکې پنځه برخې پاخوم او د هغه کورنۍ ته وقف شوې. دا په ټوله کې یو سلو پنځه ویشت جریبه ځمکه وه. (ټوله ځمکه په یو سیمه کې نه وه، په بېلابېلو سیمو کې وه) او هغه ته جواز ورکړل شو تر څو له ټولګټو اورشوګانو څخه هم ګټه واخلي. پاخوم ځان ته ودانۍ ودانه کړه او څاروي یې هم واخیستل. اوس یې د پخوا پر پرتله درې برابره ځمکې درلودې او دلته جوارو ډېر ښه حاصل درلود. د پخواني ژوند په پرتله یې لس برابره ښه ژوند کاوه. د کرلو لپاره د ځښتو زیاتو ځمکو خاوند و او څومره یې چې غوښتل څاروي یې ساتلای شول.

پاخوم په لومړیو کې خوشحاله و. خو وروسته یې بیا هم فکر کاوه چې ځمکې یې لږې دي. په لومړي کال کې یې غنم وکرل او ډېر ښه حاصل یې هم تر لاسه کړ. هغه غوښتل چې د غنمو کرلو ته دوام ورکړي او نور غنم هم وکري خو د دې لپاره یې د اړتیا وړ ځمکه نه درلوده. ځمکې یې چې درلودې هم د دې لپاره مناسب نه وې. ځکه چې په دې سیمه کې غنم یوازې په قلبه شویو ځمکو کې کرل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید لږ تر لږه دو کاله مخکې وکرل شي او وروسته بیا تر دې چې سبزې شنې شي پاتې کېده او وروسته له هغه یې کولای شول کښت وکړي. ډېر کسانو غوښتل داسې ځمکې تر لاسه کړي خو د هر چا لپاره بس نه وې؛ خلکو په دې اړه لانجې کولې. شتمنو خلکو د غنمو کرلو لپاره غوښتل دا ځمکې واخلي. چا چې وسه نه درلوده غوښتل چې په اجاره یې واخلي څو هم ګټه وکړي او هم خپل اجاره ورکړي. پاخوم هم غوښتل چې ډېر غنم وکري، له دې کبله د یو کال لپاره یې یوه سیمه په اجاره ونیوه. خورا ډېر غنم یې وکرل او ښه حاصل یې هم تر لاسه کړ، خو دا سیمه د کلي نه لېرې وه... همدا و چې اړ شو تر څو له لس میله لارې څخه د غنمو حاصل انتقال کړي. څه موده وروسته پاخوم ولید چې ځینې کلیوالو خپل پټي پرییښي او نورو بېلابېلو سیمو ته یې کډه کړې او په همدې توګه شتمن شوي دي. هغه ځان سره داسې فکر وکړ:

«که یو مزرعه په بیه واخلم او په هغه باندې یو کور هم ودان کړم هر څه به سم او ښکلي شي.»

په دې اړه یې ډېر فکر وکړ.

درې کاله همداسې تېر شول، هر کال یې ځمکې یې اجاره کولې او کرل او رېبل یې. موسمونه مناسب و او ښه حاصل یې ترلاسه کاوه. همدا شان هغه پیسې هم ټولولې. کولای یې شو چې په ښه توګه همداسې خپل ژوند مخ ته یوسي خو نور له دې ستړی شوی و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کال د بل چا ځمکې په اجاره ونیسي او نور جنجالونه په غاړه واخلي. چېرته چې ښه ځمکه خرڅېده کلیوالو به هلته هجوم راوړه او سم د لاسه هغه سیمه ډکېده. په لنډه باید وویل شي چې که ژر لاس پکار نشي یو متر ځای هم ورته نه پاتې کېده. په دربیم کال کې هغه او یو بل کلیوال په ګډه یو فارم په اجاره ونیو؛ په منځ کې شخړې پیدا شوې ځکه چې ځمکې هسې هم قلبه شوې وې. کلیوالو محکمې ته مراجعه وکړه. په منځ کې شراکت پاتې نه و او هر څه تاوان شول. پاخوم ځان سره فکر کاوه چې «که خپله ځمکه مې وای داسې به نه کېدای. که زه خپلواک وای هېڅ کومه لانجه به منځ ته نه راتله...»

پاخوم د ځمکو په لټه کې شو. د یو زرو درې سوه جریبو ځمکو یو خاوند سره مخ شو. خو بیه یې مناسبه نه وه. هغه په ارزانه بیه اخیستل غوښتل. پاخوم هغه سره چنې ووهلې او په پای کې یو زرو پنځه سوه ربلو باندې توافق وشو. نیمې پیسې به یې اوس او نیمې یې وروسته ورکول. یوازې سند پاتې و چې لاسلیک شي. په همدا مهال کې یو آس لرونکی چې له هغه ځایه تېرېده د پاخوم په کور ودرېد تر څو خپل آس موړ کړي. پاخوم سره یې خبرې وکړې. بیا پاخوم او هغه سره په ګډه کښېناستل او چای یې وڅښه. هغه هم د ځمکو خاوند و او ویې ویل چې اوس له هغه ځایه راغلی. هغه وویل چې یو زرو درې سوه جریبه ځمکه یې په زر ربلو اخیستې. پاخوم له هغه څخه نورې پوښتنې هم وکړې او هغه وویل:

«یوازینی شی چې باید سړی وکړي دا دی چې ښې ملګرتیاوې جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. زه د هغوی ښخه ولاړم او یو کارتن چای او د سل ربلو په ارزښت جامې او غالۍ مې وروړاندې کړل. چا چې څښل، هغوی ته مې شراب واخیستل. په دې توګه مې هر جریب د ځمکې د دوه کپیکو په بیه واخیسته.»

بیا یې خپل قواله پاخوم ته وروښوده. پکښې دا لیکلي و:

«ځمکه د سیند په غاړه کې ده، پکښې آن یو ځل هم لاس ندی وهل شوی.»

پاخوم ورنه پرلپسې پوښتنې کولې، پردي سړي دا ځواب ورکړ:

«هلته دومره ډېرې ځمکې دي چې که آن یو کال هم وګرځې بیا هم نه خلاصیږي او هغه ټول د بشکیرانو دي. هغوی لکه پسونه ساده خلک دي او خپل خاورې تقریبا په وړیا ډول خرڅوي.»

پاخوم فکر وکړ:

«دا دی! ولې په زر ربلو یو زرو درې سوه جریبه واخلم او ځان پوروړ کړم؟ که هلته ولاړ شم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

پاخوم پوښتنه وکړه چې څرنګه کولای شي دا سيمې ته ولاړ شي. همدا چې هغه سړی له کوره ولاړه پاخوم هلته تګ لپاره چمتووالی ونيو. ښځه يې په کور کې پاتې شوه تر څو کور وساتي. ځان سره يې خپل نوکر واخيست او په لاره روان شول. په لاره کې د يو بازار څنګ ته ودرېدل او څنګه چې هغه سړي مشوره ورکړې وه يو کارتن چای، شراب او نور توکي يې واخيستل. بيا وروسته له اوه ورځو مزله د بشکيرانو خيمو ځای ته د درې سوه ميله واټن په پای کې ورسېدل. هر څه د هغه په شان و چې سوداګر ويلي و. دا خلکو د سيند غاړه کې په پراخو شنو ځمکو کې خيمې جوړې کړې وې او هلته يې ژوند کاوه. هغوی نه ځمکې قلبه کړې وې او نه يې وچه ډوډۍ خوړله. غواګانې او آسونه يې په همدا پراخو شنو ځمکو کې څرل. نر آسونه يې د خيمو شاته بندول او ورځ کې دوه ځله يې ماده آسونه ورڅخه وړل. د ماده آسونو شيدې يې لوشلې او له هغه څخه قميز لاس ته راوړه. د کلي ټولې چارې ښځو ترسره کولې. سړيان به يوازې له نړۍ بېخبره پراته و او قميز، چای او غوښې يې خوړلې، کار يې نه کاوه. خورا نادانه و او يو کلمه هم په روسي نه پوهېدل خو ښه مزاجه خلک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې پاخوم يې وليد له خپل خيمو نه ووتل او د هغه په شاوخوا کې راټول شول. يو ژباړن پيدا شو او پاخوم د هغه په واسطه بشکيرانو ته وويل چې د ځمکې اخيستو لپاره هلته راغلی. بشکيران په دې ډېر خوښ شول. پاخوم يې بدرګه کړ او هغه يې خپل تر ټولو ښايسته خيمې ته يووړ. هلته يې په يوې جيګې توشکې باندې کښېنوه او خپله يې د هغه شاوخوا کې کښېناستل. هغه لپاره يې چای او قميز وړاندې کړل، يو پسه يې ضبح کړ او هغه ته يې غوښه مخکې کړه. پاخوم هم خپل ډالۍ ګانې له ګاډۍ څخه وباستې او لومړی يې چايونه ورته ووېشل. بشکيران په دې ډېر خوښ شول. خپل منځ کې يې ډېرې خبرې وکړې او له ژباړن نه يې وغوښتل څو ويې ژباړي.

ژباړن وويل: «دوی غواړي تا ته ووايي چې ته يې ډېر خوښ شوی يې. دا زموږ دود دی چې بايد مېلمه سره ډېر ښه چلند وشي. تا زموږ لپاره ډالۍ ګانې راوړي دي او موږ دې خوشحاله کړو. موږ هم تا خوشحالوو. ووايه! څه دې خوښ دي چې تا ته يې درکړو؟»

پاخوم ځواب ورکړ: «ځمکه! زموږ په ځمکو دومره ګڼه ګوڼه ده چې مه وايه. نه پکښې سم ګُل کرلی شې او نه کوم بل بوټی! خو دلته ستاسو ډېرې ځمکې دي او هم ښې ځمکې دي. هېڅکله مې په دې شان ځمکې نه وې ليدلې.»

ژباړن دا وژباړل. بشکيران خپل په منځ کې يو څه موده وغږېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاخوم نه پوهېده چې هغوی څه وايي خو ښکاره و چې څه وايي. بيا ناڅاپه غلي شول او پاخوم ته يې وکتل. د ژباړن په وسيله يې وويل:

«د دې ډالۍ ګانو په مقابل کې چې تا موږ ته راوړي، هر څومره ځمکه چې غواړې اخيستی شې. ته يوازې ووايه چې کوم ځای غواړې؟»

بشکيران يو څه موده نور هم يو بل سره وغږېدل او په منځ کې يې شخړه منځ ته راغله. پاخوم له ژباړن نه وغوښتل تر څو ووايي چې د څه په اړه شخړه منځ ته راغله. هغه وويل چې ځينې يې وايي چې د ځمکو په اړه بايد له مشر څخه هم مشوره واخيستل شي او د هغه په نه شتون کې پرېکړه و نه کړي او ځينو نورو هم ويل چې دې ته اړتيا نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ٦

کله چې بشکرانو[1] پخپل منځ کې لانجه درلوده خیمې ته یو پلن سرې ننوت چې د ګیدړ پوستین یې پر ځان و. ناڅاپه ټول غلي شول او په پښو ودرېدل. ژباړن دا وویل: «دا زموږ مشر دی.»

پاخوم ژر تر ټولو ښکلي جامې چې په لاس کې یې وې مشر ته وړاندې کړې. لس کیلو چای یې هم وروړاندې کړ. مشر هم ومانه او په خپل کرسۍ کې کښېناست. په دا مهال کې بَشکَرانو هغه ته کوم څه وویل. مشر هغوی ته غوږ ونیو او وروسته هغوی یې په خپل سر پوه کړل څو غلي شي. بیا پاخوم ته یې په روسي وویل:

«سمه ده. هره برخه د ځمکو چې غواړې غوره یې کړه؛ موږ ډېرې ځمکې لرو.»

پاخوم ځان سره فکر وکړ: «یعنې څنګه څومره چې غواړم واخلم؟ نو د دې لپاره چې حق مې خوندي شي باید قواله ولرم. که نه یوه ورځ به دوی رانه ټول بېرته واخلي.»

[1] په روسیه کې یو تُرک تباره قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جګ غږ یې وویل: «ښکلو خبرو څخه مو مننه. هو، تاسو ډېرې ځمکې لرئ خو زه یوازې د دې یوه کوچنۍ برخه غواړم. خو څرنګه به زه ډاډه شم چې همغه ځای په رښتیا زما په واک کې وي؟ آیا نشي کېدای چې ځمکې اندازه کړو بیا قواله واخلم؟ پوهېږئ چې مرګ او ژوند د خدای په لاس کې دی او پوهېږم چې تاسو ښه خلک یاست او دا ما ته راکوئ. خو کېدای شي په چې  په راتلونکي کې ستاسو اولادونه زما له اولادونو څخه دا ځمکې بېرته واخلي.»

مشر ورته وویل: «تاسو رښتیا وایئ، څنګه چې تا لپاره مناسب وي همغسې کوو.»

پاخوم خبرو ته دوام ورکړ: «ما واورېدل چې یو سوداګر هم دلته راغلی و او تاسو هغه ته هم یوه برخه ځمکه ورکړې ده. یوه قواله مو ورسره لاسلیک کړې وه تر څو ښکاره وي چې هغه د هغو ځمکې خاوند دی. زه هم غواړم په همغه شان وشي...»

مشر د پاخوم په مقصد پوه شو.
ځواب یې ورکړ: «هو، دا په ډېر آسانتیا کیږي. زموږ په منځ کې یو کس په لیک او لوست پوهیږي. هغه به تا سره ښار ته ولاړ شي او په سمه توګه به تا ته قواله جوړه کړي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاخوم وپوښتل: «ښه د ځمکو بیه څومره ده؟»

«بیه تل په یو شان ده: ورځ کې زر ربله.»

پاخوم پوه نشو.

«یوه ورځ کې؟ دا کوم ډول اندازه ده؟ د څو جریبو لپاره؟»

هغه وویل: «زموږ اندازې په دې توګه دي، موږ د ورځو په سر ځمکې پلورو. هغومره ځمکو ته چې په یوه ورځ کې په خپلو پښو ولاړ شې ستا دي او د دې بیه هم ورځ کې زر ربله دي.»

پاخوم هک پک پاتې و .

مشر وویل: «خو کولای شې د یوې ورځ په اوږدو کې د زښتو زیاتو ځمکو خاوند شې.»

بیا یې په جګ غږ وخندل.
ویې ویل: «ټول به ستا شي، خو په دې کې یو شرط شته: که د لمر لوېدو نه مخکې ببرته هغه ځای ته چې پیل دې کړی رسېدلای و نه شې، هېڅ ځمکه اخیستلای نشې او پیسې دې هم له لاسه ځي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



«خو زه به څنګه واټن وشمېرم؟»

«دا آسانه دی، هر ځای ته چې غواړې موږ ځو او هلته درته په تمه کېږو. ځان سره يو بېل واخله او هر څومره په واټن کې چې غواړې ودرېږه او په بېل هغه ځای وکينده. موږ به بيا دا کيندل شوي ځايونو ونښلوو څو ستا مزرعې په نښه شي. څومره پراخ ځای چې غواړې غوره يې کړه خو بايد مخکې له دې چې لمر ولوېږي هغه ځای ته چې دې شروع کړې وي ورسېږې. بيا څومره ځمکې دې چې په نښه کړې وې ستا کيږي.»

پاخوم ډېر خوشحاله شو. غوښتل يې چې سبا سهار وختي پيل وکړي. لږ نور سره وغږېدل، قميز يې وڅښه او غوښې يې وخوړې. بيا ماښام شو. هغوی پاخوم لپاره د مرغه له وزره جوړه بستره هواره کړه او وروسته ټول خواره شول تر څو ويده شي. پرېکړه وشوه چې سبا سهار بيا ټول راټول شي او نښه شوي ځای ته ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

پاخوم د مرغه له وزره جوړ بستره باندې پرېوت خو ویده کېدای و نه شو. د ځمکو په هکله یې فکر کوه:

«ځومره به لویه برخه په نښه کړم! یوه ورځ کې پنځه دېرش میله مزل وهلی شم. وروسته به د ځومره ډېرو ځمکو خاوند شم! اوسنۍ خرابې ځمکې مې پلورم بیا دلته رقم رقم بوټې کرم. دوه دانې نورې پیاوړې غواګانې هم اخلم او دوه نور کاریګران هم ورسره نیسم. په یو نیم سل جریبو باندې به کرل وکړم، پاتې ځمکو نه هم څړځایونه جوړوم. »

پاخوم ټوله شپه ویښ پاتې و، یوازې له سهاره وړاندې لږ ویده شو. همدا چې سترګې یې پټې کړې یو خوب یې ولید. په خوب کې یې دا ولید چې په همدې خیمې کې چې پکښې دی، دی. دباندې نه یې د کوم چا د قهقه خندا غږ واورېد. غوښتل یې پوه شي چې دا څوک دی، پاڅېد او دباندې ووته. ویې لیدل چې د بشکرانو مشر د خیمې مخه کې ناست دی او په یوه ساه خاندي. پاخوم د مشر څنګ ته ولاړ او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې په څه باندې خاندي. خو کله چې نور هم نږدې شو ویې لیدل چې هغه د بشکرانو مشر ندی، دا هغه د پراخو ځمکو خاوند و چې په نږدې وخت کې یې کور ته ورغلی و او هغه ته له ځمکو غږېدلی و. همدا چې پاخوم غوښتل څو ورنه وپوښتي: «ډېره موده ده چې دلته په تمه یې؟»، د پاخوم پام شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه ندی بلکې هغه د هغه کلیوال دی چې د ولګا له څنګه کلونه وړاندې د پاخوم کور ته تللی و. وروسته بیا هغه ولیدل چې هغه کلیوال هم ندی او هغه شیطان دی. ښاښونه او اوږده نوکان یې درلودل او په قهقه خندېده. د هغه په مخه کې هم یو پښې لوڅی، یخنقاق او پتلون لرونکی سړی پروت و. پاخوم ځیر شو تر څو پوه شي چې هغه سړی چې هلته پروت و څوک دی بیا پوه شو چې هغه ژوندی ندی. دا خپله پاخوم و! په وحشت له خوبه ویښ شو.

ځان سره یې وویل: «سړی څومره عجیبه خوبونه ویني!»

د خیمې خوله خلاصه وه. لمر یې ولید چې نوی خیږي.

فکر یې وکړ: «د ویښېدو وخت دی، د پیل وخت نږدې کیږي.»

پاخوم او د هغه کاریګر چمتو شول، کاریګر یې په ګاډۍ کې ویده و. بیا پاخوم د ځغاستلو کالي واغوستل او ولاړ تر څو بشکرانو ته خبر ورکړي.

هغه وویل: «د دې وخت ورسېد چې ولاړ شو او ځمکې اندازه کړو.»

بشکران پاڅېدل او چمتو شول، مشر یې هم ورغی. هغوی بیا قمیز وڅښه او پاخوم ته یې هم وړاندیز وکړ خو هغه و نه غوښتل چې ویې وڅښي.

بیا هغه وویل: «راځئ چې ولاړ شو، وخت راورسېد.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

بشکران راروان شول. څوک یې آسونو سره څوک یې هم ګاډیو سره روان و. پاخوم خپل کاریګر سره یو ځای په خپل ګاډي کې روان و او یوازې یو بېل ورسره و. ځمکو ته ورسېدل، لمر د پاسه تک سور ځلېده. ټول یوې ټیټې غونډۍ ته وختل. د دې ټیټې غونډۍ نوم شیخان و. ټول له خپل ګاډیو او آسونو نه ښکته شول او راټول شول. مشر د پاخوم څنګ ته ورغی او خپل لاس سره یې ځمکې په نښه کړې او ویې ویل: «ګوره کنه! څه چې په سترګو وینې ټول زموږ دي. ته هم کولای شې چې د دې یوه برخه خپل کړې.»

مشر خپل خولۍ ویسته او په ځمکه یې کښېښوده. بیا هغه وویل: «دا مو نښه ده. له دې ځایه پیل وکړه او بېرته دلته راشه. بیا هر هغه ځای دې چې چارپېر کړی وي ټول ستا کیږي.»

پاخوم پیسې ویستې او د خولۍ پر سر یې کښېښودې. بیا یې خپل کوټ وباسته او یوازې بېقوله کمیس یې پر ځان پاتې شو. کمربند یې خپل ښه کلک کړ. په جبب کې یې یو ټوټه ډوډۍ کښېښوده او په ملا کې یې هم خپل د اوبو یو بوتل ونښلو. بوټان یې خپل سم کړل او له خپل کاریګر څخه یې بېل واخیست او پیل لپاره تیار شو. یو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپېږ يې فکر وکړ چې د کوم خوا څخه پيل وکړي، هره خوا يې په خوښې وه.

په زړه کې يې ووېل: «فرق نه کوي، د لمر په لورې به ولاړ شم.»

مخ يې ختيز خوا ته واړو.

ځان سره يې فکر کاوه: «بايد وخت ضايع نکړم، همدا اوس چې لږ هوا سړه ده ښه دی چې روان شم.»

لا په سپېده دار کې د لمر رڼا ځلېده چې پاخوم لاس په بېل تلل پيل کړ. نه ډېر ورو تلو او نه ډېر ګړندی و. وروسته له دې چې سل متره وګرځېد، ودرېد او يو چقری يې وکيند. بيا يې پرې جلګې وپاشلې تر څو هغه ځای نور هم ښکاره وي. بيا يې خپل لارې ته دوام ورکړ. اوس نو بدن يې آموخته شو نو د دې لپاره چټک شو. څه موده وروسته يې يو بل چقری هم وکيند.

پاخوم شاته وکتل. وېې لید چې په غونډۍ کې خلک ولاړ دي خو سم نه ښکارېدل ځکه چې لمر ډېر ځلېده. يوازې د ګاډيو څرخونه يې ليدلای شول. پاخوم اټکل وکړ چې کابو درې ميله يې مزل وهلی. هوا لا نوره هم توده شوه. له دې لامله پاخوم خپل کميس وباسته او په خپل اوږه يې واچو او په همدې توګه روان شو. لمر ته يې وکتل او ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره یې ویل چې د سهارنۍ وخت رسېدلی دی.

«د بېرته تګ لپاره لا ډېر وختي دی. اوس مې باید بوټان وکاږم.»

کښېناست او خپل بوټان یې هم وکاږل، بیا یې بوټان په ملا کې وتړل او خپلې لارې ته یې دوام ورکړ. نور نو ډېر په آسانۍ ګرځېده.

ځان سره یې ویل: « درې میله به نور هم مخامخ ولاړ شم، بیا به کېنې خوا ته تاو شم.»

بیا یې مخامخ ولید او ویې ویل: «هغه سیمه څومره ښکلې ده. هغه ځای له لاسه نه شم ورکولای! هر څومره چې سړی مخکې ځي نورې ښې ځمکې هم مخ ته راځي.»

یو څه موده نور هم مخامخ روان و. بیا یې شاته وکتل او ویې لید چې نور نو غونډۍ سمه نه ښکاري. خلک مېګتانو ته ورته ښکارېدل.

پاخوم وویل: «آه، په دا لورې ډېر وړاندې شوم. اوس نو باید بېرته وګرځم. ډېر ستړی شوی هم یم او تګی شوی هم یم.»

ودرېد او یو لوی چقری یې وکیند. واښه او جلګې یې ورباندې وپاشل. بیا یې خپل بوتل پرانیست او اوبه یې وڅښل. بیا مخامخ کېڼ خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوره‌ېد او په هغې لورې وړاندې شو. بوټې جيګې وې او هوا هم ډېره توده وه. پاخوم ستړی شوی و. لمر ته يې وکتل او پوه شو چې غرمه ده.

فکر يې وکړ: «بس دی. بايد يو څه دمه ونيسم.»

کښېناست او ډوډۍ يې اوبو سره وخوړه خو پرې نه وته. ځکه چې پوهېده چې که پرېوځي خوب يې وړي او بيا وينښېدای به نه شي. يو څه نور هم کښېناست بيا بېرته روان شو. لومړی ښه روان و، هغه په دې چې ډوډۍ خوړلو يو څه ځواکمن کړی و. خو هوا بده تاوده وه او د پاخوم خوب هم راته. بيا يې په ماغزو کې دا تېر شول: «يوه ګړۍ رنځ لري، خو يو عمر سوکالي ورسره ده.» خپل لارې ته يې دوام ورکړ.

غوښتل يې چې کيڼ خوا ته واوړي خو په ناڅاپه يې يو ناور وليد. ويې وويل: «که دا ځای وانخلم خو نکيږي. دې ځي کې ډېره ښه پخته راووځي.» په همدې توګه ناور يې هم په خپلو ځمکو کې ګډ کړ او د هغه له کونجه راتاو شو. بيا هلته يې يو بل چقری هم ويست او ټيټې غونډۍ ته يې بيا وکتل. نور نو هېڅ څه ورته نه ښکارېدل. پاخوم د تاودښت له امله ګنس شوی و.

پاخوم وويل: «مخکينۍ څنډې مې ډېرې پراخې ونيولې، اوسنۍ څنډه بايد لږ لنډه ونيسم.» بيا يې دريېم کونج په نښه کړ تر څو ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ شي. لا نور هم ګړندی روان شو. لمر خوا ته یې وکتل. لمر د افق منځ ته رارسېدلی و خو هغه لا تر اوسه آن درېیمې څنډې ته نه و رسېدلی. لا لس میله د پایلې ځای څخه لېرې و.

پاخوم وویل: «نه نه، خیر دی چې تر اوسه مې ځمکې کړې وړې ونیولې خو اوس باید په سیده لاره روان شم. که نه مزل مې ډېر اوږدیږي. هڅې نه هم ډېرې ځمکې مې واخیستې.»

په دې شان یې ژر ژر یو بل چقری ویست او د غونډۍ په لور سیده روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

پاخوم غونډۍ خوا ته روان و خو اوس په سختۍ ګرځېده. تاودښت پرې ډېر بد اغېز کړی و، لوڅې پښې یې پرهاري او ژوبلې وې. له دې کبله ډېر ناتوانه شوی و. ډېر یې غوښتل چې دمه ونیسي خو اړ و چې مخکې له دې چې لمر ولوېږي، ورسیږي. خو دا شونې نه و. لمر چا ته ماتل نکوي او مخ په لوېدلو و.

هغه وویل: «خدایه! ما سهوه وکړه! کاشکې ما تېروتنه نه کوله او ډېر لېرې نه تللای وای! که څنګه وشي څه وکړم؟»

غونډۍ ته یې وکتل بیا یې لمر ته ولید. لا اوس هم له موخې نه ډېر لېرې و. لمر مخ په لوېدو و. پاخوم ګرځېدلو ته دوام ورکړ. که څه هم ګرځېدل ورته سخته تمامېدل خو څومره چې وسه یې درلوده ګړندی شو. وړاندې شو خو لا هم له موخې څخه ډېر لېرې و. وځغاسته. هر څه یې په ځمکه واچول؛ بوټان، بوتل، خولۍ... یوازې بېل یې پاتې و چې لکه عصا یې ورنه ګټه اخیسته.

بیاځلې یې فکر وکړ: «زه به څه وکړم، له حده ډېر څه مې وغوښتل او ټرون مې مات کړ. مخکې له دې چې لمر ولوېږي هلته نشم رسېدای.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وېرې هغه نور هم سترړی کړ. پاخوم په منډو و، له خولو یې کمیس او پتلون خیشت شوي و، خوله او ژبه یې وچه شوې وه، په یوه ساه و، پښې یې لکه دا چې د خپل یې نه وي، وې. پاخوم سراسر وېرې چارپېر کړی و او فکر یې کاوه چې مړ کیږي.

سره له دې چې له مرگه وېرېده و نه درېد. ویل یې: «که د دومره مزل وهلو وروسته ودرېږم خلک به وایي چې دا احمق دی.»

و نه درېده، نور هم وځغاست... دومره نږدې شوی و چې آن د بشکرانو غږونه یې اورېدل. دا غږونو هغه یو ځل بیا ویښ کړ. خپل وروستی ځواک یې وښود، نور هم وځغاست.

ډېر لږ پاتې و چې لمر ولویږي. هوا تکه سره وه. نږدې و چې پاخوم بې هوښه شي! خو پاخوم موخې ته ډېر نږدې شوی و. پاخوم په غونډۍ ولاړ خلک ولیدل چې هغه ته لاسونه ښوروي او ورته وایي چې ژر شه. مشر ورته سم ښکارېده. هغه په ځمکه ناست و او هغه خولۍ او پیسې یې په لاس کې و. ناڅاپه د پاخوم خپل خوب په یاد شو.

ځان سره یې دا فکرونه کول: «ځمکې خو ډېرې دي. خو آیا خدای به ما پرېږدي چې پرې ژوند وکړم؟ خپل ژوند مې له لاسه ورکړ! هلته به هېڅکله و نه رسېږم!»
پاخوم لمر ته وکتل. نیمه برخه یې نه ښکارېده او لوېدلی و. څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې توان درلود مخکې شو، ځان يې مخکې کاوه تر څو و نه غورځيږي. کله چې غونډۍ ته ورسېد تياره وه. پورته يې وکتل... لمر لوېدلی او ژړل يې. ځان سره يې وايل: «ټولې هڅې مې بې ارزښته شوې.» مخ په درېدو و چې بيا يې د بشکرانو غږونه واورېدل. د هغه دې ته پام شو چې هغوی خو پورته دي او هغوی لپاره لا اوس هم لمر ندی لوېدلی. يوه ژوره ساه يې واخيسته او د غونډۍ خوا ته پورته شو. هغه ځای کې لا رڼايي وه. د غونډۍ په سر ورسېد او خولۍ يې وليده. اوس هم  مشر ناست و او په جگ غږ يې خندل. د پاخوم يو ځل بيا خپل خوب په ياد شو. پښې يې نور د کار نه وې او پر مخ ولوېد. لاسونه يې تر خولۍ پورې ورسېدل.

مشر چيغې وکړې: «دا دی د يو ډېرې ځمکو خاوند شوې!»

خدمتگار يې ژر په منډو راغی او هڅه يې وکړه چې پاخوم پورته کړي. خو له خولې څخه يې وينې بهېدې. خپل وروستۍ ساه يې ورکړه. خدمتگار يې هغه بېل واخيست او د هغه لپاره يې قبر وکينده. دوه متره ځمکې د پاخوم لپاره بس شوې وې.

**پـــای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**